د عقد د فسخ کیدلو حق د عیب په خیار سره بی د پخوانی شرط څخه ثابتیږی.

**مادهٔ- ۶۸۲**

حق فسخ عقد بخیار عیب، بدون شرط قبلی ثابت می گردد.

**۶۸۲- ماده**

د عیب خیار په هغه عقدونو کښی ثابتیږی چه د فسخ کیدو احتمال ولری.

**مادهٔ- ۶۸۳**

خیار عیب در عقودی ثابت میگردد که احتمال فسخ را داشته باشد.

**۶۸۴- ماده**

عیب هغه وخت د خیار موجب کیدی شی چه د عقد ترمخه موجود وی او د مبیعی په قیمت کښی تاثیر ولری، همدارنگه چه متصرف الیه په هغی علم ونه لری او متصرف د عیب څخه برائت نه وی شرط کړی.

**مادهٔ- ۶۸۴**

عیب، وقتی موجب خیار شده می تواند که قبل از عقد موجود بوده و در قیمت مبیعه مؤثر باشد، همچنان متصرف الیه، به آن علم نداشته ومتصرف برائت عیب را شرط نگذاشته باشد.

**۶۸۵- ماده**

(۱) کــه عیــب د دی قــانون د(۶۸۴) مــادی د درج شــوو شــرطونو لرونکــی وی، عقد په متصرف الیـه نه لازمیږی او هغـه کـولی شـی چـه خپلـه اراده د قبضـیدو ترمخـه نقـض کـی او د هغـی څخه متصرف ته خبر ورکی.

(۲) دعیب په سبب د قبضیدو وروسته دعقد نقضول بی د دواړو خواوو درضا یا د واک لرونکی محکمی دحکمه په غیر صورت نه شی موندلی.

**۶۸۶- ماده**

که متصرف الیـه د عیب په خیار یو عقد نقض کی عقد فسخ کیږی، که مبیعـه قـبض شـوی وه د هغـی ردول او کــه ثمــن ورکــول شــوی وو د هغــی غوښتنه لازمیږی.

**۶۸۷- ماده**

متصـرف الیـه نـه شی کـولی کـه یـی معیـوب شـی د ځـان سـره سـاتلی وو د متصرف څخه د ثمن د نقصان غوښتنه وکی، مگر په هغـه صورت کښـی چه د شـی ردول بـې د متصـرف د مـداخلی ممکن نه وی او د هغی عـوض ورتـه نـه وی رسیدلی.

**مادهٔ- ۶۸۵**

(۱) هـرگاه عیب حاوی شروط مندرج مــادهٔ (۶۸۴) ایـن قـانون باشـد، عقـد بر مــتصرف الیـه لازم نگردیـده او مـی توانـد بــه ارادهٔ خــود آنـرا قبـل از قبض، نقض نمـوده و از آن بمتصـرف اعلان نماید.

(۲) نقض عقد بعد از قبض به سبب عیب، بدون رضایت طرفین یا حکم محکمـهٔ بـا صـلاحیت صـورت گرفتـه نمی تواند.

**مادهٔ- ۶۸۶**

هرگاه متصرف الیه عقدی را بخیـار عیــب نقــض نمایــد، عقــد فســخ گردیــده، رد مبیعــه درحــال قــبض ومطالبـهٔ ثمـن در صـورتیکه پرداختـه شده باشد، لازم می گردد.

**مادهٔ- ۶۸۷**

مــتصرف الیـه نمـی توانـد، نقصـان ثمـن را در حــالیکه شی معیـوب را نـزد خـود نـگهـداشته از متصـرف مطالبه نماید، مــگر در صورتیکه رد شـی بـدون مــداخله متصرف الیـه، نـاممکن گردیـده وعــوض آن بـه وی نرسیده باشد.

**۶۸۸- ماده**

د عیب خیار، د خیار د موضوع په هلاکیدو، د هغې د زیاتوالي یا نقصان په سبب، د خیار د خاوند له خوا د خیار ساقطیدل، یا د عیب د علم څخه وروسته په هغې رضائیت او یا د عیب د علم څخه ترمخه په شي کښې د هغه تصرف، ساقطیږي.

**۶۸۹- ماده**

د عیب خیار د متصرف الیه په مرګ نه ساقطیږي او وارثان د هغه قایم مقام ګڼل کیږي.

** څلورم مبحث- د عقد آثار**

**لمړی فرعه- د عقد آثار د عقد د دواړو خواوو په باره کښې**

**۶۹۰- ماده**

د صحیح عقد په منعقیدو چه آثار لکه حکمونه او حقوق مرتب کیږي د داسې عقد څخه عبارت دی چه د ذات او صفت له حیثه مشروع وي او صیغه یې د هغه شي په باره کښې چه د حکم وړ وي د اهلیت لرونکي شخص څخه صادره شوې وي، همدارنګه صفتونه یې صحیح او دخلل څخه خالي وي او د عقد د فاسدوونکي شرط سره یوځای نه وي.

**مادهٔ- ۶۸۸**

خیار عیب به هلاك شدن موضوع خیار، زیادت یا نقصان آن، اسقاط خیار از طرف صاحب خیار یا رضایت او به عیب، بعد از علم به آن و یا تصرف او در شی قبل از علم به عیب ساقط می گردد.

**مادهٔ- ۶۸۹**

خیار عیب، بمرگ متصرف الیه ساقط نگردیده و ورثه قایم مقام او شناخته میشود.

**مبحث چهارم- آثار عقد**

**فرع اول- آثار عقد در مورد طرفین عقد**

**مادهٔ- ۶۹۰**

عقد صحیح که با انعقاد آن آثاری از قبیل احکام وحقوق مرتب میگردد، عقدیست که ذاتاً و وصفاً مشروع بوده، صیغهٔ آن در مورد شی ایکه قابلیت حکم آنرا داشته و از شخص صاحب اهلیت صادر گردیده باشد، همچنان اوصاف آن صحیح وعاری از خلل بوده ومقرون به شرط فاسد کنندهٔ عقد نباشد.

۶۹۱- ماده
د عقد اثر د عقد په دواړو خواوو او د هغوی په عام خلف بی له دی چه د میراث عامی قاعدی اخلال کی تطبيقيږی، مگر داچه د عقد، د معاملی د طبیعت یا د قانون د نص څخه معلومه شی چه دا اثر عام خلف ته نه راجع کيږی.

مادۀ- ۶۹۱
اثر عقد برعاقدین وخلف عام آنها با رعایت عدم اخلال قواعد میراث راجع میشود، مگر اینکه از عقد، طبیعت معامله یا نص قانون عدم رجعت آن به خلف عام دانسته شود.

۶۹۲- ماده
که د عقد څخه شخصی التزامات او حقوق پیدا شو او داسی مال ته راجع وو چه وروسته خاص خلف ته انتقال پیدا کوی، نو ذکر شوی التزامات او حقوق هم د مال د نقلیدو په وخت کښی نقلیږی خو په دی شرط چه د مال مستلزم وی او خاص خلف وربانـدی هغه ته د مال د نقلیدو په وخت کښی علم ولری.

مادۀ- ۶۹۲
هرگاه وجایب و حقوق شخصی ناشی از عقد، به مالی راجع باشد که بعداً به خلف خاص انتقال نماید، حقوق و وجایب مذکور، نیز حین انتقال مال، انتقال مینماید، مشروط بر اینکه مستلزم مال بوده خلف حین انتقال مال به آن علم داشته باشد.

۶۹۳- ماده
که د معاوضی عقد چه په اعیانو واقع شوی وی او د صحت دټولو شرطونو لرونکی وی نو د خپل ملکیت په بدل کښی د عقد د دواړو خواوو د ملکیت د ثبوت تقاضا کوی او هریو د خپل هغه ملکیت په تسلیمیدو بل ته مکلف دی چه عقد پری شوی دی.

مادۀ- ۶۹۳
هرگاه عقد معاوضه ایکه براعیان واقع گردیده دارای تمام شرایط صحت باشد، مقتضی ثبوت ملکیت هریك از عاقدین در بدل ملك آنها والزام هریك به تسلیمی ملکش بطرف دیگر می باشد.

**۶۹۴- ماده**

که د معاوضی عقد د اعیانو په ګټو واقع شوی وی او دصحت او نفاذ ټول شرطونه ولری، نو په عین کښی د متصرف التزام دا ایجابوی چه هغه ګټی اخیستونکی ته او د ګټی اخیستونکی التزام دا ایجابوی وی چه دعین خاوند ته په بدل کښی د هغو منافعو چه مستحق شوی تسلیم کی.

**۶۹۵- ماده**

د ملکیت د نقلیدو او د ګټو د مرتبیدو په غیر د معاوضی د عقد د آثارو څخه دا هم ده چه پور په ذمه ثابتوی، یایی په کار کولو لازموی او یا پور محکموی.

**۶۹۶- ماده**

(۱) عقد د نافذیدو وروسته لازم ګڼل کیږی د عقد څخه رجوع او د هغی تعدیل بی د دواړو خواو د رضاء یا د قانون د حکم په غیر، جواز نه لری.

(۲) په هغه صورت کښی چه استثنائی حادثی یا طبیعی آفتونه یا داسی واقعی ظهور وکی چه دهغی اټکل ممکن نه وی، او پوروړی دهغی په علت د داسی سختیو سره مخامخ شی چه هغه په فاحشی خساری تهدید کی که څه هم د عقد څخه د پیدا شوی

**مادۀ- ۶۹۴**

هرگاه عقد معاوضه ایکه برمنافع اعیان واقع گردیده، دارای تمام شرایط صحت ونفاذ باشد، متصرف عین، به تسلیم آن برای نفع گیرنده ونفع گیرنده به تسلیم بدل منفعت به متصرف عین، مکلف میگردد.

**مادۀ- ۶۹۵**

تثبیت دین برذمه یا الزام شخص به اجرای عمل و یا توثیق دین، علاوه برانتقال ملکیت وترتیب منفعت نیز از آثار عقد، پنداشته میشود.

**مادۀ- ۶۹۶**

(۱) عقد بعد از انفاذ لازم پنداشته شده، رجوع از عقد وتعدیل آن بدون رضایت طرفین یا حکم قانون، جواز ندارد.

(۲) در صورت ظهور حوادث استثنائی یا آفات طبیعی و یا واقعۀ که پیش بینی آن ناممکن بوده و مدیون بعلت آن مواجه به چنان مشکلی گردد که وی را به خسارۀ فاحش تهدید نماید، گرچه ایفای

التزام تنفیذ مستحیل نه وی، محکمه کولی شی چه د عقد د دواړو خواوو د ګټو د موازنی وروسته د پوروړی دا ډیر مشکل التزام تریوی عادلانه اندازی پوری راکښته کی، د دی حکم په خلاف هرقسم موافقه باطله ګڼل کیږی.

تعهد مبنی برعقد مستحیل نباشد، محکمه می تواندپس از ارزیابی مصالح طرفین تعهد، مدیون را به حد عادلانه تنزیل دهد. هرگونه موافقه برخلاف این حکم باطل پنداشته میشود.

## ۶۹۷- ماده

عقد په هغه څه چه ورته شامل دی او ښه نیت د هغی تقاضا کوی نافذیږی. عقد علاوه په دی چه څه شی په عقد کښی ذکر شوی او دواړه خواوی پری ملزمه وی، ټولو هغه شیانو ته هم شامل دی چه د التزام طبیعت یی د قانون د حکمونو، عرف، او عدالت سره سم، تقاضا کوی.

## مادهٔ- ۶۹۷

عقد بر آنچه که شامل آن بوده وحسن نیت مقتضی آن باشد، نافذ میگردد. همچنان عقد علاوه از اینکه طرفین را به آنچه در عقد وارد گردیده ملزم میسازد، شامل تمام آنچه طبیعت وجیبه مطابق باحکم قانون، عرف و عدالت مقتضی آن باشد، نیز می باشد.

## ۶۹۸- ماده

(۱) که عقد د اذعان په صورت او دغیر عادلانه شرطونو لاندی شوی وی، نو محکمه کولی شی ذکر شوی شرطونه تعدیل کی یا دمقابلی خوا د ذمی په برائت لکه چه عدالت یی تقاضا کوی، حکم وکی. مګر داچه د اذعان شرطونه د دولتی مراجعو له خوا وضع شوی وی.

## مادهٔ- ۶۹۸

(۱) هرگاه عقد بصورت اذعان وتحت شرایط غیر عادلانه صورت گرفته باشد، محکمه می تواند شرایط متذکره را تعدیل و یا به برائت ذمهٔ طرف مقابل طوریکه عدالت مقتضی آنست حکم نماید. مگر اینکه شرایط اذعان از طرف مراجع دولتی وضع شده باشد.

(۲) د خصوصی مؤسسو د اذعان په عقدونو کښی د قراردادونو د فورمو

(۲) شرایط مندرج فورمه های قرار داد به شمول نرخ در عقود، اذعان

درج شوی شرطونه په شمول د نرخ، د دولت دصلاحیت لرونکو مراجعو له خوا منظور او مراقبت کیږي.

## دویمه فرعه- د عقد آثار د دریم شخص په باره کښې

### ۶۹۹- ماده

(۱) که عاقدینو د مواضعې، یا جبر یا د ټوکو په صورت عقد ترسره کړی وی د عقد کوونکو پورورکوونکی او خاص خلف که د ښه نیت لرونکی وی کولی شی چه په ظاهری عقد تمسک وکی، همدارنګه کولی شی چه د عقد هغه شکلیات چه د هغې له امله ورته ضرر رسیدلی ثابت کی او په غیر ظاهری عقد تمسک وکی.

(۲) که د علاقې لرونکی اشخاصو ښیګڼې په داسې عقد کښې یو د بل معارض واقع شي، ځینی په ظاهری او ځینی نور په غیر ظاهری عقد تمسک وکی نوظاهری عقد ته ترجیح ورکول کیږي.

### ۷۰۰- ماده

(۱) دعقد کوونکو او دهغوی دعام خلف ترمنځ، غیرظاهری عقد نافذ ګڼل کیږي، په ظاهری عقد کوم اثر نه مرتبیږي.

مؤسسات خصوصی از طرف مراجع با صلاحیت دولتی، منظور ومراقبت میشود.

## فرع دوم- آثار عقد در مورد شخص ثالث

### مادهٔ- ۶۹۹

(۱) هرگاه متعاقدین بصورت مواضعه یا جبری ویا مزاح عقدی را انجام داده باشند، دائنین متعاقدین وخلف خاص آنها، می توانند در صورتیکه دارای حسن نیت باشند، بعقد ظاهر تمسك نمایند. همچنان می توانند شکلیات عقدی را که به اثر آن متضرر شده اند، ثابت نموده و به عقد غیر ظاهر تمسك نمایند.

(۲) اگر مصالح اشخاص ذیعلاقه در چنین عقد معارض هم واقع گردیده، بعضی به عقد ظاهر وبعضی دیگر بعقد غیر ظاهر تمسك نمایند، بعقد ظاهر ترجیح داده میشود.

### مادهٔ- ۷۰۰

(۱) بین متعاقدین وخلف عام آنها عقد غیر ظاهر نافذ پنداشته شده، بر عقد ظاهر اثری مرتب نمی گردد.

(۲) که د عقد دواړه خواوی د ظاهری عقد په وسیله، حقیقی عقد پټ وساتی، نو حقیقی عقد که د صحت ټول شرطونه ولری، صحیح ګڼل کیږی.

(۲) اگر متعاقدین، عقد حقیقی را توسط عقد ظاهر مخفی نمایند، عقد حقیقی در صورتیکه واجد تمام شرایط صحت باشد، صحیح پنداشته میشود.

۷۰۱- ماده

(۱) که څوك د دریم شخص په التزام وعده وکی، دریم شخص په دی وعده نه ملزم کیږی، که دریم شخص وعده رد کړه، نوپه وعده ورکوونکی لازم دی چه د هغه سره د عقد کولو تعویض ورکی، که وعده ورکوونکی، ذکر شوی التزام بی له دی چه پور ورکوونکی ته ضرر ورسیږی، اجراء کی د وعدی په تعویض نه مکلف کیږی.

مادهٔ- ۷۰۱

(۱) هرگاه شخص به تعهد شخص ثالث وعده بدهد، شخص ثالث به سبب آن ملزم شناخته نمی شود، در صورت رد وعده از طرف شخص ثالث، وعده دهنده به تعویض مکلف می گردد. اگر وعده دهنده به اجرای وجیبهٔ مذکور بدون رسانیدن ضرر به دائن بپردازد، به تعویض وعده مکلف نمی گردد.

(۲) که دریم شخص وعده تائید کی نو د تائید د صادریدو له وخته په هغی ملزم ګڼل کیږی مگر داچه د تائید څخه په صراحت یا ضمنی توګه معلومه شی چه د تائید نسبت د وعدی ورځی ته شوی.

(۲) در صورتیکه شخص ثالث وعده را تائید نماید، از حین صدور تائید به آن ملزم شناخته میشود. مگر اینکه نسبت تائید به روز وعده، طور صریح یا ضمنی، معلوم گردد.

۷۰۲- ماده

(۱) شخص کولی شی چه پخپل نوم په هغه التزاماتو عقدو کی چه هغه یی دبل چا د ګټی دپاره شرط کړی وی خو په دی شرط چه ددی التزاماتو په

مادهٔ- ۷۰۲

(۱) شخص می تواند عقدی را مبنی برتعهداتیکه در آن مصلحت شخص ثالث را شرط گذاشته است، به اسم خود انجام دهد. مشروط بر اینکه در

تنفیذ کښی پخپله د هغه مادی یا معنوی ګټه موجوده وی، دریم شخص د دی شرط په سبب د ذکر شوی شرط په تنفیذیدو کښی مستقیم حق پیدا کوی، مګر داچه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

(۲) متعهد کولی شی چه د مستقیم حق څخه د استفادی په مقابل کښی په دریم شخص په داسی دفعی تمسک وکی چه پرعقد واردیږی.

همدارنګه شرط ایښودونکی کولی شی د هغی ګټی د تنفیذ غوښتنه وکی چه د دریم شخص په ګټه یی شرط کړی مګر داچه د عقد څخه د هغی خلاف معلوم شی.

۷۰۳- ماده

(۱) شرط ایښودونکی کولی شی پخوا له دی چه دریم شخص د خپلی موافقی څخه د شرط څخه د استفادی په باره کښی متعهد یا شرط ایښودونکی ته خبر ورکی، کوم شرط چه یی ایښی دی نقض کی مګر دا چه د عقد اقتضاء هغی په خلاف وی. د شرط ایښودونکی، پور ورکوونکی او وارثان له دی حق څخه استفاده نه شی کولی.

(۲) د شرط ایښودل د متعهد د ذمی

اجرای این تعهد، منفعت مادی یا معنوی شخص او موجود باشد. شخص ثالث به سبب این شرط حق مباشر را به اجرای شرط مذکور کسب می نماید، مگر اینکه به خلاف آن موافقه صورت گرفته باشد.

(۲) متعهد می تواند در برابر استفاده از حق مباشر توسط شخص ثالث، بچنان دفعی بپردازد که برعقد وارد می گردد.

همچنان شرط گذار می تواند اجرای مصلحتی را که به نفع شخص ثالث شرط گذاشته است، مطالبه نماید، مگر اینکه از عقد خلاف آن معلوم گردد.

مادۀ- ۷۰۳

(۱) شرط گذار می تواند پیش از آنکه شخص ثالث موافقه اش را در مورد استفاده از شرط به اطلاع متعهد یا شرط گذار رسانیده باشد، شرطی را که گذاشته است نقض نماید، مگر اینکه مقتضای عقد به خلاف آن باشد. دائنین یا ورثه شرط گذار ازین حق استفاده کرده نمی توانند.

(۲) گذاشتن شرط، برائت ذمه

برائت د شرط اېښودونکی په مقابل کښې نه افاده کوی، مگر داچه په صراحت یاضمنی توگه د هغې په خلاف موافقه شوې وی. شرط اېښودونکی کولی شی چه درېیم شخص ته تغییر ورکی او یا پخپله د هغه په ځای قرار ونیسی.

**۷۰۴- ماده**

کوم شرط چه د درېیم شخص په گټه اېښودل کیږی، کیدای شی چه گټه اخیستونکی مستقل شخص یا مستقل جهت وی، همدارنگه جواز لری چه د عقد په وخت کښې شخص یا جهت بالذات نه وی ټاکل شوی خو په دی شرط چه د عقد د تاثیر د نتیجو په وخت کښې د هغوی ټاکل ممکن وی.

### درېیمه فرعه ـ د عقد تفسیر

**۷۰۵- ماده**

په عقد کښې اصل د عقد د دواړو خواوو رضا او د هغه څه نتیجه ده چه دواړو خواوو د عقد په وسیله پرځان لازم کړی دی.

**۷۰۶- ماده**

په عقدونو کښی د عقد د دواړو خواوو د ظاهری ارادی په نظر کښې نیولو

متعهد را در برابر شرط گذار افاده نمی کند، مگر اینکه طور صریح یا ضمنی به خلاف آن موافقه صورت گرفته باشد. شرط گذار می تواند شخص ثالث را تغییر داده و یا خود را بجای آن قرار دهد.

**مادهٔ- ۷۰۴**

در شرط گذاشتن به مصلحت غیر جائز است که نفع گیرنده شخص مستقل یاجهت مستقل باشد. همچنان شخص یا جهتیکه حین عقد ذاتاً معیین نباشد، به شرطی بحیث شخص ثالث قرار گرفته می تواند که هنگام ظهور آثار عقد، تعیین شده بتواند.

### فرع سوم ـ تفسیر عقد

**مادهٔ- ۷۰۵**

اصل در عقد، رضای متعاقدین و نتیجهٔ آنچه که به واسطهٔ عقد بالای خود لازم ساخته اند، میباشد.

**مادهٔ- ۷۰۶**

در عقود با رعایت ارادهٔ ظاهر متعاقدین، به

سره، مقصودونو او معنی گانو ته اعتبار ورکول کیږي نه لفظونو او حرفونو ته.

۷۰۷- ماده

په خبروکښی اصل د حقیقی معنی اراده ده، ترڅو چه حقیقی معنی امکان لري د مجازی معنی اراده جواز نه لري. او که حقیقی معنی متعذره وی نو د مجازی معنی اراده جواز لري.

۷۰۸- ماده

د صریح په مقابل کښی، د لالت اعتبار نه لري، که د دواړو مفهوم یو دبل معارض واقع شی نو صریح ته ترجیح ورکول کیږي.

۷۰۹- ماده

په باطنی امورو کښی د یوشی دلیل د هغی قایم مقام کیږي.

۷۱۰- ماده

که مانع او اقتضاء یو دبل معارض واقع شی، مانع ته ترجیح ورکول کیږي.

۷۱۱- ماده

په خبره عمل کول د هغی د پرېښودو څخه ښه دی. ترڅو چه خبره په یوی معنی حملیدای شی، د هغی پرېښودل

مقاصد ومعانی اعتبار داده میشود، نه به الفاظ وحروف.

مادۀ- ۷۰۷

اصل در کلام ارادۀ معنی حقیقی آنست نه ارادۀ معنی مجازی، در صورت امکان ارادۀ معنی حقیقی ارادۀ معنی مجازی جواز ندارد، مگر اینکه ارادۀ معنی حقیقی متعذر باشد.

مادۀ- ۷۰۸

در برابر صریح به دلالت اعتبار داده نمی شود، هرگاه مفهوم هر دو معارض هم واقع گردد، به صریح ترجیح داده میشود.

مادۀ- ۷۰۹

در امور باطنی دلیل شی، قایم مقام آن می گردد.

مادۀ- ۷۱۰

هرگاه مانع ومقتضی معارض هم واقع گردد، به مانع ترجیح داده میشود.

مادۀ- ۷۱۱

اعمال کلام بهتر از اهمال آنست. تا وقتیکه حمل کلام بریک معنی شده بتواند اهمال آن

جواز نه لري، که ئی عمل کول متعذر شو نو پریښودله کیږي.

جواز ندارد، مگر اینکه اعمال آن متعذر گردد.

**۷۱۲- ماده**

د ځینو هغو ذکر چه د تجزیي وړ نه دی د ټولو د ذکر په شان دی.

**مادهٔ- ۷۱۲**

ذکر بعضی از آنچه که قابل تجزیه نیست، مانند ذکر کل آنست.

**۷۱۳- ماده**

ترڅو چه د مطلق د تغیر دلیل په صریح یا ضمنی توگه معلوم نه شی پخپل اطلاق پاتی کیږي.

**مادهٔ- ۷۱۳**

مطلق تا وقتیکه دلیل تغییر آن، طور صریح یا ضمنی موجود نگردد، به اطلاق خود باقی می ماند.

**۷۱۴- ماده**

په حاضر کښی صفت لغو دی او په غایب کښی اعتبار لری.

**مادهٔ- ۷۱۴**

وصف در حاضر ملغی و در غایب اعتبار دارد.

**۷۱۵- ماده**

تصدیق شوی سوال د مخاطب د ځواب په ضمن کښی اعاده شوی گڼل کیږي.

**مادهٔ- ۷۱۵**

سوال تصدیق شده در ضمن جواب مخاطب، اعاده شده پنداشته میشود.

**۷۱۶- ماده**

کوم شی چه په خپو شرطونو مشروط شوی وی، د یوه شرط په نفی کولو سره، نفی کیږي.

**مادهٔ- ۷۱۶**

آنچه به چند شرط مشروط گردیده باشد، به انتفای یك شرط منتفی میشود.

**۷۱۷- ماده**

شک د پوروړی په گټه تفسیریږي.

**مادهٔ- ۷۱۷**

شك به نفع مدیون، تفسیر میشود.

**۷۱۸- ماده**

حکم د علت د پیداکیدو سره پیدا او د هغی د لیری کیدو سره لیری کیږي.

**مادهٔ- ۷۱۸**

حکم، با موجودیت علت، موجود و به انتفای آن منتفی می گردد.

۷۱۹- ماده
کــوم شی چه دقیاس په خلاف ثابت شــوی وی، بــل شــی پــری نــه شــی قیاسیدلی.

مادۀ- ۷۱۹
آنچه به خلاف قیاس ثابت شده باشد، چیزی دیگری به آن قیاس شده نمی تواند.

۷۲۰- ماده
کوم شی چه په عرف کښی معروف وی د هغه څه په څیردی لکه چه شرط اینښودل شوی وی.

مادۀ- ۷۲۰
آنــچه در عــرف مــعروف بــاشــد، مانند آنست کــه شرط گذاشته شده باشد.

۷۲۱- ماده
عــادت عــام وی او کــه خــاص د حکــم مدار کیدای شی.

مادۀ- ۷۲۱
عادت عام باشد یا خاص، مدار حکم قرار داده می شود.

۷۲۲- ماده
عــادت هغــه وخــت اعتبــار لــری چــه عمومیــت یــا اکثریــت ولــری. خپــور اغلبیت ته اعتبار ورکول کیږی نه نادر اغلبیت ته.

مادۀ- ۷۲۲
عادت وقتی اعتبار دارد که عمومیت یا اغلبیت داشته باشد. اعتبار به اغلبیت شایع داده میشود، نه اغلبیت نادر.

۷۲۳- ماده
کوم شی چه په عادت کښی منع وی لکه چه په حقیقت کښی منع وی.

مادۀ- ۷۲۳
آنچه عادتاً ممتنع باشد، مانند آنست که حقیقتاً ممتنع باشد.

۷۲۴- ماده
حقیـــــقت د عــادت پــه دلالــت تــرک کیـــږی.

مادۀ- ۷۲۴
حقیقت بـه دلالـت عـادت، تـرك مـی شود.

۷۲۵- ماده
فرعه د اصل حکم لری.

مادۀ- ۷۲۵
فرع، حکم اصل را دارد.

**۷۲۶- ماده**

تابع، د متبوع حکم تابع دی ځانګړی حکم پری نه مرتب کیږی.

**۷۲۷- ماده**

که څوك د یوشی مالک شی د هغه څه مالک هم ګرځی چه دهغی د ضروریاتو څخه دی.

**۷۲۸- ماده**

د اصل د ساقطیدو سره، فرعه ساقطیږی، او که باطل شی نوهغه شی چه د هغی په ضمن کښی دی هم باطلیږی.

**۷۲۹- ماده**

د کوم شی چه صرفول او ترکول یی بی د شرط ایښودلو جواز لری، د شرط ایښودل لازمیږی.

**څلورمه فرعه- دعقد آثار دعقد د ضمان په باره کښی**

**۷۳۰ ماده**

که په عقد باندی ملتزم شوی ونه شو کړی د عین د محال والی له امله پخپل التزام وفا وکی او یایی خپل التزام د موافقی شوی میعاد څخه وروسته کړ، نومحکمه کولی شی چه د ضمان حکم وباندی صادرکی، مگر داچه ثابته کی چه دتنفیذ محال والی

**مادهٔ- ۷۲۶**

تابع، تابع حکم متبوع بوده، حکم جداگانه بر آن مرتب نمیگردد.

**مادهٔ- ۷۲۷**

شخصیکه مالك شی گردد، مالك آنچه از ضروریات آن باشد نیز میگردد.

**مادهٔ- ۷۲۸**

با سقوط اصل، فرع ساقط گردیده و در صورت بطلان چیزیکه در ضمن آن باشد، نیز باطل می گردد.

**مادهٔ- ۷۲۹**

هرآنچه بذل و ترك آن بدون گذاشتن شرط جواز داشته باشد، گذاشتن شرط لازم می گردد.

**فرع چهارم- آثار عقد در مورد ضمان عقد**

**مادهٔ- ۷۳۰**

هرگاه متعهد نتواند وجیبه را در مورد عقد عیناً ایفا نماید یا اجرای وجیبه را از مدت معیینه بتأخیر اندازد، محکمه می تواند علیه او حکم ضمان را صادر نماید. مگر اینکه ثابت گردد که عدم امکان وفاء یا

يا د ادا كولو وروسته والي د داسي سبب له امله وو چه دهغه د ارادي نه وتلي وو.

## ۷۳۱- ماده

د عقد دواړه خواوي كولی شی د تنفيذ د نشتوالي يا د ادا كولو د وروسته والي په حالت كښي، په عقد يا تر هغي وروسته موافقه كښي، د مستحق ضمان قيمت تحديد كی.

## ۷۳۲- ماده

كه پوروړی ثابت كی چه ټاكل شوی ضمان عادلانه، نه دی او د هغه ضرر سره چه دنه تنفيذيدو له امله پيدا شوی متناسب نه دی، پور وركوونكی يی نه مستحق كيږی.

## ۷۳۳- ماده

په هغه حالتونو كښي چه ضرر دموافقه شوی ضمان دقيمت څخه زيات وی، نو پور وركوونكی نه شی كولی چه دموافقه شوی قيمت څخه دزيات غوښتنه وكی، مگر په هغه صورت كښي چه ثابته كی چه پوروونكی د غش يا د لوی خطا مرتكب شوی وی.

## ۷۳۴- ماده

كه دضمان په اندازه ترمخه موافقه نه وه شوی يا په قانون كښي وربانديا

تأخير در اجرا وجيبهٔ ناشی از سببی بوده كه وی در آن دخيل نبوده است.

## مادهٔ- ۷۳۱

متعاقدين مي توانند اندازهٔ ضمانی را كه در حال عدم اجراء يا تأخير بايد پرداخته شود، در حين عقدتعيين يا بعداً به آن موافقه نمايند.

## مادهٔ- ۷۳۲

هرگاه مديون ثابت نمايد كه ضمان تعيين شده غير عادلانه بوده و با ضرريكه از عدم تنفيذ نشأت نموده متناسب نمی باشد، دائن مستحق آن شده نمی تواند.

## مادهٔ- ۷۳۳

در مواردیكه ضرر عايد بيشتر از اندازه ضمان تعيين شده باشد، دائن نمی تواند مقدار اضافی را از مديون مطالبه نمايد، مگر اينكه ثابت نمايد كه مديون مرتكب خيانت يا خطای فاحش گرديده است.

## مادهٔ- ۷۳۴

محكمه می تواند در صورت عدم موافقهٔ قبلی به اندازهٔ ضمان

صراحت نه وو شوی، محکمه کولی شی پور ورکوونکی ته دوارد شوی خساری او دکاره پاتی کیدو په نظر کښی نیولو سره، هغه وټاکی.

## ۷۳۵- ماده

(۱) که پوروړی په داسی پور ورکولو کښی تأخیر وکی، چه موضوع یی نقدی پیسی وی او د غوښتنی په وخت کښی د هغی مقدار معلوم وی، پور ورکوونکی کولی شی چه دپور د ادا کولو د وروسته والی له امله د خساری جبیره چی په مدنی موضوعاتو کی ددری په سلو کښی دی، وغواړی.

(۲) که د دواړو خواوو د موافقی یا د عرف څخه د پور د تأخیر له امله د خساری د جبیری اخیستلو نیټه نه شوه معلومیدی، نو د تعویض د تطبیق نېټه دقضائی غوښتنی دنېټی څخه شروع کیږی.

## ۷۳۶- ماده

د عقد دواړه خواوی کولی شی چه د موافقی په اساس د دی قانون د(۷۳۵) مادی درج شوی تضمین، په کال کښی د دری په سلوکی زیات وټاکی، خو په دی شرط چه په کال کښی د اووه په سلو کښی زیات نه شی، که ددی څخه زیاته موافقه شوی وی، اعتبار نلری،

یا عدم تصریح آن درقانون بادرنظرداشت خسارهٔ وارده بر دائن وکسرعواید وی، اندازهٔ آنراتعیین نماید.

## مادهٔ- ۷۳۵

(۱) هرگاه مدیون از تادیهٔ دینی تأخیربعمل آرد که موضوع آنرا پول نقد تشکیل داده ومقدارآن حین مطالبه معلوم باشد، دائن می تواند جبران خسارهٔ ناشی از تأخیرتادیه را که سالانه معادل (۳) فیصد درموضوعات مدنی باشد، مطالبه نماید.

(۲) تأخیر جبران خساره در حالیکه ازموافقه طرفین یا عرف معلوم شده نتواند، از تاریخ مطالبه قضائی آغاز می گردد.

## مادهٔ- ۷۳۶

طرفین عقدمی توانند براساس موافقه، جبران خساره مندرج مادهٔ (۷۳۵) این قانون راسالانه بیشتر از سه فیصد تعیین کنند. مشروط براینکه از هفت فیصد درسال تجاوز نکند. اتفاقیکه به خلاف آن صورت گرفته باشد، اعتبار نداشته

دائــن د زيــاتی انــدازی پــه بيرتــه ورکولومکلف کيږی.

۷۳۷- ماده

هـــــرنوع عمل يا گټه چه ددی قانون د (۷۳۵) مـادی د اندازی څخـه د پـور ورکـــوونکی لـــه خـوا زياتـه شـرط شـــی، پټه گټه گڼـــل کيږی او بـايد چـــه د پـــورتنی انـدازی پـوری کمـه شـــی.

۷۳۸- ماده

که ثابته شی چه پور ورکوونکی د پور دغوښتنی په حالت کښی، د جگړی د اوږديـدو سـبب شـوی دی، محکمـه کولی شی چه قـانونی يا موافقـه شـوی تعويض کم يا د هغی مودی په تعويض حکـم ونـه کـی چـه پـه هغـی کښـی بـی موجبه جگړه اوږده شوی ده.

## پنځمه فرعه- د عقد آثار د عقد د منحليدو په باره کښی

### لمړی جزء- فسخ

۷۳۹- ماده

په هغه عقدونو کښی چه د عقد دواړو خواوو ته الزام متوجه کوی نوکه يوی خوا خپل التزام ترسره نه که، بله خوا کولی شی چه د عقد د فسخ کيدو او د اقتضـاء پـه وخـت کـی د تعـويض سره

دائـــن بـــه رد مـــازاد مقدار مـــذکور مـــکلف مـــيگردد.

مادۀ- ۷۳۷

هرنـــوع عمـــل و منفعتيکـــه زايـــد از مقدار مندرج مـادۀ (۷۳۵) ايـن قـانون از طرف دائـن شـرط گـردد، منفعت غيــر ظــاهر شـمرده شـده در حــدود مقدار مندرج مادۀ مذکور تنزيل داده ميشود.

مادۀ- ۷۳۸

هـــرگاه ثابت شـود کـه دائـن درحــال مطالبه حق، سبب طولانی شدن مـدت منازعـه گرديـده است، محکمـه مـی تواند جبران خساره قانونی يا موافقـه شـده را تنقـيص يابـه جبـران خسـارۀ مدتيکه بدون موجب طولانی گرديده، حکم نه نمايد.

## فـــرع پـــنجم- آثـــار در مـــورد انحـــلال عـــقد

### جزء اول- فسخ

مادۀ- ۷۳۹

هرگـاه يکـی از عاقـدين درعقوديکـه الـــزام را بـــه طـــرفين عقـــد متوجـــه ميســازد وجيبــه را ايفــاء نــه نمايــد، طـرف مقابـل مـی توانـد فسـخ عقـد را ودرصـورت لـزوم بـاجبران خســاره از

غوښتنه وکی.

هغه عقودچه طبیعتاً غیر لازم وی یا هغه خیار ته مقترن شوی وی چه د فسخ موجب گرځی، له دی حکمه مستثنی دی.

۷۴۰- ماده
د فسخ کیدو د ابلاغ په صورت کښی، محکمه کولی شی پورورړی ته د خپل التزام د تنفیذ دپاره تریوی تاکلی مودی دپاره مهلت ورکی.

۷۴۱- ماده
کوم شی چه پورورړی نه وی ترسره کړی او نسبت التزام ته ډیر کم وی، محکمه کولی شی چه د فسخ کیدو غوښتنه رد کی.

۷۴۲- ماده
که دواړه خواوی موافقه وکی چه د عقد څخه پیدا شوی التزامونه هریو ترسره نه کړل، نو عقد به د خپله ځانه بی د محکمی د حکمه فسخ گڼل کیږی، دا موافقه جواز لری. خو دا موافقه دفسخ کیدو ابلاغ دمینځه نه وړی، مگر داچه دواړو خواوو په لیکلی توگه وربادندی موافقه کړی وی.

۷۴۳- ماده
(۱) که په مالی اعیانو باندی وارد د

طرف دیگر مطالبه نماید.

عقود یکه طبیعتاً غیرلازم بوده یا به خیاری مقترن گردیده باشد که موجب فسخ گردد، ازین حکم مستثنی است.

مادهٔ- ۷۴۰
در حالت ابلاغ فسخ، محکمه میتواند مدیون راغرض اجرای وجیبه مهلت بدهد.

مادهٔ- ۷۴۱
هرگاه آنچه رامدیون ایفاء نه نموده، نسبت به تعهدناچیز باشد، محکمه می تواند مطالبه فسخ رارد نماید.

مادهٔ- ۷۴۲
موافقه طرفین عقد مبنی برفسخ آن بدون حکم محکمه، درصورت عدم ایفاء وجایب ناشی از عقدجوازدارد. این موافقه سبب معافیت از ابلاغ فسخ نمی گردد، مگراینکه درمورد معافیت از ابلاغ موافقه تحریری طرفین بعمل آمده باشد.

مادهٔ- ۷۴۳
(۱) هرگاه عقد معاوضه وارد براعیان

معاوضی عقد فسخ شی په هغی مرتب التزام ساقطیږی، په دی صورت کښی د هغه عوض تسلیمول چه د عقد په وسیله ثابت شوی نه لازمیږی.

(۲) او که عوض ترمخه ورکول شوی وی د هغی په بیرته ورکولو او که بیرته ورکول یی ممکن نه وو، په ضمان حکم کیږی.

**۷۴۴- ماده**

که په مالی معاوضو کښی د عقد موضوع د هغی د ښبنتن په لاس کښی هلاکه شوه، عقد فسخ کیږی، او که عوض قبض شوی وو نوبلی خواته د هغی بیرته ورکول هرو مرو دی، عام له دی چه دا هلاک د مالک په ارادی صورت موندلی وی یا د هغه د ارادی د باندی.

**۷۴۵- ماده**

د معاوضو په عقدونوکښی که متقابله التزامونه یو له بله وروسته وی، نو د وروستنی التزام خاوند کولی شی ترهغی وخته د خپل التزام د تنفیذیدو څخه ځان وژغوری ترڅو چه بلی خوا خپل التزام نه وی ترسره کړی.

**۷۴۶- ماده**

که معاوضو په عقدونو کښی د دواړو

مالی، فسخ گردد، وجیبه مرتب بر آن ساقط می گردد. درین صورت تسلیمی عوضیکه توسط عقد ثابت گردیده لازم نمی باشد.

(۲) اگر عوض قبلاً تسلیم داده شده باشد، به ردآن و درصورت عدم امکان به رد ضمان آن حکم میشود.

**مادهٔ- ۷۴۴**

هرگاه در معاوضات مالی موضوع عقددرحالیکه درتصرف مالك قرار دارد هلاك گردد، عقد فسخ گردیده ودرصورت قبض عوض، ردآن به طرف مقابل حتمی می باشد، خواه این هلاك بفعل مالك صورت گرفته باشد یاخارج ازاراده وی.

**مادهٔ- ۷۴۵**

هرگاه اجرای وجایب متقابله درعقود معاوضه یکی از دیگری متأخرباشد، صاحب وجیبهٔ لاحق، میتواند از اجرای وجیبهٔ خود تاوقتیکه جانب مقابل به اجرای وجایب خود اقدام نکرده، امتناع ورزد.

**مادهٔ- ۷۴۶**

هرگاه اجرای وجایب طرفین

خواوو التزامونه په يوه وخت کښې واجب التنفيذ وی، دعقد دواړه خواوی کولی شی چه د التزام موضوع په يوه وخت کښی يوبل ته تسليم کی او يايی دواړه يوه عادل شخص ته ورکی ترڅو چه هريو خپل حق په يوه وخت کښی تسليم شی.

## دوهم جزء _ اقاله

**۷۴۷- ماده**

د عقد دواړه خواوی پخپله رضا کولی شی چه عقد اقاله کی، اقاله د عقد د منحليدو موجب ګرځی.

**۷۴۸- ماده**

اقاله په هغه يوتر بله ورکولو سره چه د ايجاب او قبول قايم مقام ګرځی، صحيح ده.

**۷۴۹- ماده**

د اقالی په وخت کښی د عقد د موضوع قيام او شته والی هرو مرو دی، که د عقد موضوع د اقالی ترمخه هلاکه شی اقاله باطليږی، که د عقد د موضوع يوه برخه هلاکه شی، نو اقاله په پاتی موضوع کښی صحيح ګڼل کيږی.

درعقود معاوضه دروقت واحد لازم باشد، طرفين می توانند درعين وقت موضوع تعهد را به يکديگرتسليم نموده و يا آنرا نزد شخص عادل بگذارند، تا هريك حق خودرا در وقت واحد تسليم گردد.

## جزء دوم _ اقاله

**مادۀ- ۷۴۷**

طرفين می توانند عقدرابعداز انعقاد آن برضايت خوداقاله نمايند. اقاله موجب انحلال عقد می گردد.

**مادۀ- ۷۴۸**

تعاطی، قايم مقام ايجاب قبول بوده، اقاله با آن صحيح پنداشته ميشود.

**مادۀ- ۷۴۹**

ثبات و وجود موضوع عقد هنگام اقاله حتمی می باشد. اگرموضوع عقد قبل از اقاله هلاك شود، اقاله باطل می گردد، درصورتيکه قسمتی از موضوع عقد هلاك گردد، اقاله درمورد باقی مانده صحيح پنداشته ميشود.

**۷۵۰- ماده**

اقاله د عقد د دواړو خواوو په باره کښې د فسخ حکم لري، او د درېيم شخص په باره کښې نوی عقد ګڼل کېږي.

## دوهم قسمت
## ځانګړې اراده

**۷۵۱- ماده**

د عقد پورې تړول مربوط حکمونه په ځانګړې ارادې تطبيقيږي، مګر په هغه حالت کښې چه د التزام د پيدا کولو دپاره د دوه مطابقو ارادو د وجود د ضرورت پورې تعلق پيدا کي.

**۷۵۲- ماده**

د ځانګړې ارادې خاوند په هغه حالونو کښې چه قانون پرې حکم کوی، ملزم ګڼل کيږي.

**۷۵۳- ماده**

ځانګړې اراده کله د التزام يا د وعدې د پيدا کيدو سبب ګرځي او کله د ملکيت د پيدا کيدو يا ساقطيدو موجب ګرځي يا د تصرف د اجازې کولو، او کله د يوه خيار د استعمال موجب ګرځي.

**مادۀ- ۷۵۰**

اقاله در مورد متعاقدين حکم فسخ را داشته و در برابر شخص ثالث، عقد جديد شناخته ميشود.

## قسمت دوم
## ارادۀ انفرادی

**مادۀ- ۷۵۱**

ارادۀ انفرادی تابع تمام احکام مربوط به عقد مي باشد، مگر در احواليکه وجود توافق اراده دو طرف برای ايجاد تعهد، حتمی پنداشته شود.

**مادۀ- ۷۵۲**

صاحب ارادۀ انفرادی، مطابق به احکام قانون ملزم شناخته ميشود.

**مادۀ- ۷۵۳**

ارادۀ انفرادی احياناً سبب ايجاد تعهد يا وعده گرديده واحياناً موجب کسب يا اسقاط ملکيت ويا اجازۀ برای تصرف واحياناً استعمال يکی از خيارات مي گردد.

**۷۵۴- ماده**

وعده د هغه شي ځخه عبارت ده چه شخص يي په خپل ځان باندی د بل چا دپاره په راتلونکی زمانه کښی لاژموی. او التزام فی الحال نه لاژمیږی. وعده کله په عقد او کله په عمل واقع کیږی.

**مادۀ- ۷۵۴**

وعده عبارت است از الزامیکه شخص در برابر غیر بر نفس خود در زمان آینده بوجود آورده وتعهد فوری را افاده نمی کند. وعده احیاناً برعقد واحیاناً برعمل واقع میگردد.

**۷۵۵- ماده**

ترخو چه وعده کوونکی مړ یا مفلس نه شی پخپله وعده ملزم دی.

**مادۀ- ۷۵۵**

وعده دهنده تا وقتیکه وفات نه نموده یا مفلس نگردیده است، به ایفای وعده مکلف می باشد.

**۷۵۶- ماده**

که څوك د چاسره د يوه ټاكلی كار په سرته رسولو سره د جایزی وعده وکی نو کله چه کار ترسره شی کار کوونکی ته د جایزی په ورکولو مکلف دی، که څه هم بی له دی چه وعده په نظر کښی ونیول شی کار ترسره شی.

**مادۀ- ۷۵۶**

شخصیکه در برابر انجام عمل معیین به اعطای جایزه وعده کرده باشد، مکلف است جایزه وعده شده رابه شخصیکه آنرا انجام داده است اعطاء نماید، گرچه عمل بدون درنظرداشت وعده انجام شده باشد.

**۷۵۷- ماده**

که وعدی ورکوونکی د کار د تر سره کولو دپاره موده نه وی ټاكلی، پخوا له دی چه شخص ټاكلی کار ترسره کی وعده کوونکی دخپل وعدی ځخه گرځیدای شی. که څوك د وعدی کړی شوی جایزی غوښتنه د وعدی ځخه د

**مادۀ- ۷۵۷**

هرگاه وعده دهنده، مدتی رابرای انجام عمل تعیین نکرده باشد، می تواند قبل ازآنکه شخص عمل معیینه راانجام داده باشد. ازوعده اش رجوع نماید. مطالبه جایزۀ وعده داده شده،

رجوع کولو د اعلان د نېټې تردرې میاشتو پورې، ونه کې بیایې دا غوښتنه نه اوریدله کیږي.

بعد ازسه ماه ازتاریخ اعلان رجوع از وعده قابل سمع نمی باشد.

## درېیم فصل
## قانوني واقعی

## فصل سوم
## حوادث قانونی

### لمړی قسمت
### مضر فعل

### قسمت اول
### فعل مضر

**لمړی مبحث- هغه فعل چه په مال واقع کیږي**

**مبحث اول- فعلیکه بر مال واقع میشود**

**لمړی فرعه- تلفول**

**فرع اول- اتلاف**

**۷۵۸- ماده**
هرڅوك چه د چا مال تلف کې د ضرر په ضمان مکلف کیږي.

**مادۀ- ۷۵۸**
شخصیکه مال غیر را تلف نماید، بضمان ضررناشی از آن مکلف میباشد.

**۷۵۹- ماده**
که څوك دچا مال تلف کې عام له دی چه مال د مالک په لاس کې وی یا دهغه د امین، په قصد سره وی او که بی قصده، دخپل فعل څخه د پیدا شوی ضرر په ضمان مکلف دی.

**مادۀ- ۷۵۹**
شخصیکه مال غیررا خواه درتصرف خودش باشد یاامین او، قصداً ویابدون قصد تلف نماید، بضمان ضرر ناشی از عمل خود مکلف شناخته میشود.

**۷۶۰- ماده**
لکه چه د تلفولو د سبب پیدا کول د ضمان موجب گرځی، همدارنگه په لازمی وسایلو کښی چه پاملرنه یی

**مادۀ- ۷۶۰**
طوریکه ایجاد سبب اتلاف، مؤجب ضمان میگردد، قصور در تهیۀ وسایل ممکنۀ رعایت

امکان لری، قصور هم د ضمان موجب ګرځی.

**۷۶۱- ماده**

که ټول مال تلف شوی وو نوټول ضمان او که تلف جزئی وو نو کوم نقصان چه مال ته پیدا شوی په تلفوونکی د هغی ضمان لازمیږی.

**۷۶۲- ماده**

که ممیز صغیر یا نا ممیز صغیر او یا هغه څوك چه دهغه په حکم کښی دی دبل چا مال تلف کی د هغه د خپل مال څخه د تلف کولو ضمان لازمیږی، که یی مال نه لرلو نو د شتمنی پوری ورته مهلت ورکول کیږی، ولی، وصی او قیم د تلف شوی مال په ضمان نه مکلف کیږی مگر په هغه صورت کښی چه محکمه یی د مال په ضمان مکلف کی په دی حالت کښی ولی، وصی او قیم کولی شی د هغه چا له خوا چه ضرر واقع شوی پری رجوع وکی.

**۷۶۳- ماده**

که په یوه ضرر کښی مستقیم ضرر رسوونکی اومتسبب یوځای شی نو هریو چه تعدی کړی وی یا متعدی وی، ضامن ګڼل کیږی. که دواړه شریک وو، نو په شریکه د ضمان په

احتیاط، نیز ضمان ضرر را لازم می گردانید.

**مادۀ- ۷۶۱**

درصورت اتلاف کلی، ضمان مال طورکامل ودرصورت اتلاف جزئی، ضمان نقصانیکه برقیمت مال عاید گردیده است، برذمۀ تلف کننده لازم می گردد.

**مادۀ- ۷۶۲**

هرگاه صغیر ممیز یا غیرممیز و یا شخصیکه تابع حکم صغیرغیرممیز پنداشته شود، مال غیر راتلف نماید، ضمان مال تلف شده از مال متعلق بخود وی لازم می گردد. درصورت نداشتن مال تا زمان دارا شدن وی مهلت داده میشود. ولی وصی وقیم به ضمان مال تلف شده مکلف پنداشته نمیشود، مگردرصورتیکه محکمه آنهارا بضمان مال مکلف سازد، درین صورت حق رجوع آنها برتلف کننده محفوظ می باشد.

**مادۀ- ۷۶۳**

در صورت اجتماع مباشر و متسبب، هر یکی از آنها که متعدی یا متعمد باشد، ضامن شناخته میشود. در صورت اشتراك، هردو مشترکاً به تادیۀ ضمان مکلف

ورکولو مکلف ګڼل کيږي.

**۷۶۴- ماده**

د ضرر متسبب هغه وخت د ضمان په ورکولو مکلف ګڼل کيږي چه د فعل څخه يې ضرر پيدا شوی وی.

**دوهمه فرعه ـ غصب**

**۷۶۵- ماده**

(۱) غصبوونکی د هغه څه په بيرته ورکولو مکلف دی چه يې اخيستی دی.

(۲) که دغصب په اثر، ضرر ورسيد، غصبوونکی د غصب په ځای کښې د عين غصب شوی مال په بيرته ورکولو او د ضرر په تعويض مکلف دی.

**۷۶۶- ماده**

که غصب شوی مال د غصبوونکی له خوا استهلاک شی، ياټول يا ځينی ئې ورسره هلاک شی يا د هغه د تيری په اثر يابی د تيری کولو تلف شی، د غصب شوی مال ضامن ګڼل کيږي.

**۷۶۷- ماده**

که غصب شوی مال د غصبوونکی سره تغيير وکی نو هغه څوك چه

پنداشته ميشوند.

**مادهٔ- ۷۶۴**

متسبب ضرروقتی مکلف به تاديهٔ ضمان پنداشته ميشود که فعل او منجر به وقوع ضررشده باشد.

**فرع دوم ـ غصب**

**مادهٔ- ۷۶۵**

(۱) غاصب به رد آنچه غصب نموده مکلف می باشد.

(۲) اگر ضرری به اثر غصب عايد گردد، مرتکب برعلاوهٔ رد عين مال مغصوبه در محل غصب، به جبران خساره نيزمکلف می باشد.

**مادهٔ- ۷۶۶**

در صورتيکه مال مغصوبه ازطرف غاصب استهلاك گردد و يا کل يا بعضی آن نزد وی هلاك شود و يا به سبب تعدی يا بدون تعدی وی تلف گردد، بضمان مال مغصوبه مکلف دانسته ميشود.

**مادهٔ- ۷۶۷**

هرگاه مال مغصوبه نزد غاصب تغيير نمايد، مغصوب

ورځخه مال غصب شوی، اختیار لري چه عین غصب شوی مال د ضرر د تعویض سره اخلي یا د غصبوونکی څخه ضمان غواړي.

۷۶۸- ماده

د غصب شوی مال زواید د هغی د مالک پوری تعلق لري، په هغه صورت کښی چه زواید هلاک شی یا د غصبوونکی له خوا استهلاک شي نو غصبوونکی دهغی په ضمان ورکولو مکلف دی.

۷۶۹- ماده

(۱) که غصب شوی مال عقار وی نو غصبوونکی د هغی په بیرته ورکولو، سره د مثلی اجوری سره د هغی خاوند ته مکلف دی.

(۲) که غصبوونکی په عقار کښی بنا آباده کړی وی او یایی ونی کرلی وی، مالک کولی شي چه ونی او بنا ونړوی او یا که غصب کوونکی موافقه وکی د هغی د نړول شوی قیمت ورکی.

(۳) که عقار تلف شو یا یی قیمت نقصان پیدا کړو که څه هم غصبوونکی تیری نه وی کړی، ضمان ور باندی لازمیږی.

منه می تواند ،عین مال مغصوبه را با جبران خسارهٔ عایده یا ضمان آنرا از غاصب مطالبه نماید.

مادهٔ- ۷۶۸

زواید مال مغصوبه متعلق به مالك آن بوده، در صورتیکه زواید هلاك گردد یا از طرف غاصب استهلاك شود، غاصب بضمان آن مکلف می باشد.

مادهٔ- ۷۶۹

(۱) هرگاه مال مغصوبه عقار باشد، غاصب به رد آن به مالك یا اجرت مثل آن مکلف می باشد.

(۲) درصورتیکه غاصب درعقار بنأ آباد نموده باشد و یا اشجارغرس کرده باشد، مالك می تواند اشجار و بنأ را قلع نماید، و یا قیمت آنها را درصورت موافقه غاصب مقلوعاً بپردازد.

(۳) درصورت تلف شدن عقار یا وارد شدن نقص برقیمت آن، گرچه غاصب متعدی نباشد، بضمان مکلف می گردد.

۷۷۰- ماده

د غصب کوونی غصبوونکی د غصبوونکی حکم لری، که یی غصب شوی مال تلف او یا یی په لاس کښی هلاک شو، دواړه غصبوونکی د هغه چا په مقابل کښی د تضمین په ورکولو مکلف دی چه مال یی غصب شوی وی.

مادهٔ- ۷۷۰

حکم، غاصب غاصب، مانند حکم غاصب می باشد، در صورتیکه مال مغصوب نزد وی تلف گردیده یا آنرا اتلاف نماید، هردو غاصب در برابر مغصوب منه مکلف به ضمان میباشد.

۷۷۱- ماده

که د غصب کوونکی، غصب کوونکی غصب شوی مال لمړنی غاصب ته بیرته ورکړو نو پخپله بری الذمه کیږی، که یی هغه چاته ورکړو چه مال یی غصب شوی، نو دواړه غصب کوونکی بری الذمه کیږی.

مادهٔ- ۷۷۱

هرگاه غاصب دوم مال مغصوب را به غاصب اول رد نماید، تنها خود وی بری الذمه گردیده و درصورت رد مال به مغصوب منه، هردو غاصب بری الذمه شناخته میشوند.

۷۷۲- ماده

که غصب کوونکی، غصب شوی مال معاوضه یا تبرع کی، او د هغی په نتیجه کښی ټول یا یوه برخه مال تلف شی نو د متصرف الیه سره یوځای ضامن ګڼل کیږی، د چا څخه چه مال غصب شوی، کولی شی چه دهریو څخه چه یی زړه وی د مال ضمان وغواړی.

مادهٔ- ۷۷۲

هرگاه غاصب مال مغصوبه را معاوضه یا تبرع نماید که در نتیجه آن تمام یاقسمتی از مال مذکور تلف گردد، غاصب و متصرف الیه هردو مسؤول شناخته شده، مغصوب منه می تواند از هریکی که خواسته باشد، ضمان مال را مطالبه نماید.

**۷۷۳- ماده**

کوم شی چه د تصرف په لیری کولو کښې د غصب سره مساوی وی، د غصب حکم لری.

**مادهٔ- ۷۷۳**

آنچه در ازالهٔ تصرف مساوی غصب باشد، تابع حکم غصب می گردد.

### دوهم مبحث- کوم فعل چه په نفس واقع کیږی

### مبحث دوم- فعلیکه بر نفس واقع میشود

**۷۷۴- ماده**

که ځوك پرنفس باندی د ضرر رسوونکی فعل ارتکاب کوونکی شی لکه قتل، زخم، وهل او د اذیت نوری نوعی، نوکوم ضرر یی چه رسولی د هغی په تعویض ورکولو مکلف دی.

**مادهٔ- ۷۷۴**

شخصیکه مرتکب فعل مضر از قبیل قتل، جرح، ضرب و یا دیگر انواع اذیت بر نفس گردد، به جبران خساره وارده مکلف میباشد.

**۷۷۵- ماده**

که ځوك د زخم کیدو یا بل هر مضر عمل په سبب د بل چا د قتل یا مرګ موجب وګرځی نو د هغه اشخاصو د نفقی په تعویض مکلف دی چه د هغوی نفقه د مړه شوی په غاړه وه او هغی ځخه د قتل یا مرګ په سبب محروم شو.

**مادهٔ- ۷۷۵**

شخصیکه به سبب جرح یا هر عمل مضر دیگر موجب قتل یا وفات شخص گردد، در برابر اشخاصیکه نفقه آنها بدوش متوفی بوده وبه اثر قتل یاوفات از آن محروم شده اند، بتأدیه ضمان مکلف می باشد.

### دریيم مبحث- شریک حکمونه

### مبحث سوم- احکام مشترك

**۷۷۶- ماده**

که ځوك په خطا یا تقصیر بل چا ته ضرر ورسوی، په تعویض ورکولو مکلف دی.

**مادهٔ- ۷۷۶**

هرگاه به اثر خطا و یا تقصیر ضرری به غیر عاید گردد، مرتکب به جبران خساره مکلف می باشد.

**۷۷۷- ماده**

په غیر د هغه ضررونو څخه چه ترمخه ذکر شو، هرنوع تیری چه د هغی څخه بل چا ته ضرر ورسیږی، ارتکاب کوونکی په تعویض ورکولو مکلف دی.

**۷۷۸- ماده**

(۱) تعویض ورکول د معنوی ضرر سنجولو ته هم شامل دی.

(۲) که په چا تیری وشی او مړ شی او دهغی په سبب ښځی یا دهغه خپلوانو ته معنوی ضرر ورسیږی، محکمه کولی شی چه ښځی او تر دوهمی درجی پوری خپلوانوته د تعویض په ورکولو حکم وکی.

(۳) د معنوی ضرر څخه پیدا شوی تعویض بل چا ته نه نقلیږی مگر داچه اندازه یی د دوارو خواوو په موافقه یا د محکمی په قطعی حکم ټاکل شوی وی.

**۷۷۹- ماده**

محکمه به تعویض د رسیدلی ضرر په تناسب ټاکی، په دی شرط چه ذکر شوی ضرر به مستقیمه توگه د مضر فعل څخه پیدا شوی وی.

**مادۀ- ۷۷۷**

هرنوع تعدی ایکه ازآن ضرری بغیر از اضرار مندرج مواد فوق به شخص دیگری عاید گردد، مرتکب به جبران خساره مکلف می باشد.

**مادۀ- ۷۷۸**

(۱) جبران خساره شامل سنجش ضرر معنوی نیزمی باشد.

(۲) اگر به سبب وفات شخصیکه مورد تعدی واقع گردیده، ضرر معنوی به زوج واقارب وی عاید گردد، محکمه می تواند برای زوج واقارب تا درجۀ دوم به جبران خساره حکم نماید.

(۳) جبران خساره ناشی ازضرر معنوی، بغیر انتقال نمی کند، مگر اینکه مقدارآن به اساس موافقه طرفین و یا حکم قطعی محکمه تعیین شده باشد.

**مادۀ- ۷۷۹**

محکمه جبران خساره را به تناسب ضرر عایده تعیین می نماید، مشروط بر اینکه ضرر مذکور مستقیماً از فعل مضر نشأت کرده باشد.

۷۸۰- ماده
که د محکمی سره د تعویض د اندازی د د قیقو تاکلو امکانات موجود نه وو، نوکولی شی چا ته چه ضرر رسیدلی د تعویض د تاکلو په باره کښی د هغه د بیا غوښتنی حق تریوی معقولی مودی پوری وساتی.

مادهٔ- ۷۸۰
هرگاه امکانات تعیین دقیق مقدار جبران خساره نزد محکمه میسرنباشد، میتواند حق مطالبهٔ تجدید نظررا در مورد تعیین مقدارجبران خساره، در خلال مدت معقول برای متضرر حفظ نماید.

۷۸۱- ماده
محکمه به د تعویض د ورکولو طریقه د حالونو د په نظر کښی نیولو سره تاکی، د تعویض ورکولو په قسطونو یا د مرتبو عایداتو په صورت کیدای شی، په دی حالت کښی جواز لری چه پوروړی د تأميناتو په ورکولو مکلف شی.

مادهٔ- ۷۸۱
طریقه جبران خساره بارعایت احوال ازطرف محکمه تعیین می گردد، جبران خساره بصورت اقساط یا عواید مرتب پرداخته شده می تواند، که دراین صورت مکلف ساختن مدیون به دادن تأمینات جواز دارد.

۷۸۲- ماده
هغه چا ته چه ضرر رسیدلی او د خپلی خطا په سبب د رسیدلی ضرر په پیدا کیدو یا زیاتیدو کښی ګډون ولری، محکمه کولی شی چه د تعویض اندازه کمه کی او یا پری بیخی حکم ونه کی.

مادهٔ- ۷۸۲
هرگاه متضررنسبت خطای خود درایجاد و یا تزئید ضرر عایده اشتراك داشته باشد، محکمه میتواند مقدار جبران خساره را تقلیل داده یا اصلاً به آن حکم ننماید.

۷۸۳- ماده
که څوك ثابته کی چه رسیدلی ضرر بی د هغه د مداخلی د باندنی سبب څخه پیدا شوی، یا د غیر مترقبه حادثی یا د مجبره سببونو

مادهٔ- ۷۸۳
هرگاه شخصی ثابت نماید که ضررعایده ناشی از سبب خارجی بدون مداخله وی یا از حادثه غیر مترقبه یا ناشی از اسباب مجبره بوده

ښځه پیدا شوی یا پخپله د ضرر رسیدلی د خطا یا د بل چا له خوا پیدا شوی، په ضمان نه مکلف کیږی، مگر داچه قانون یا د دواړو خواوو موافقه د هغی په خلاف حکم وکی.

۷۸۴- ماده

(۱) ضرورت د ضرورت په اندازی ټاکل کیږی.

(۲) که څوك د خپل ځان یا مال ښځه یا دبل چا د ځان یا مال ښځه د مشروعی دفاع په حالت کښی د ضرر ارتکاب کوونکی شی، مسئول نه گڼل کیږی، خو په دی شرط چه په دفاع کښی یی د ضروری اندازی ښځه تیری نه وی کړی، دهغی په غیر د داسی تعویض په ورکولو مکلف دی چه عدالت یی تقاضا کوی.

۷۸۵- ماده

شدید ضرر په خفیف ضرر زائلیږی. که څوك د خپل ځان د ساتنی دپاره د هغه ضرر ښځه چه ده ته رسیدلی دی بل چاته ډیر ضرر ورسوی، د هغه تعویض په ورکولو چه محکمه یی عادلانه وگڼی محکومیږی.

۷۸۶- ماده

خاص ضرر د عام ضرر د لیری کولو

و یا به سبب خطای شخص متضرر یا از غیر نشأت کرده است، بضمان مکلف نمی گردد. مگر اینکه قانون یا موافقه طرفین به خلاف آن حکم نماید.

مادهٔ- ۷۸۴

(۱) ضرورت بقدر ضرورت، تعیین می شود.

(۲) شخصیکه در حالت دفاع مشروع از نفس یا مال خود و یا نفس یا مال شخص دیگری مرتکب ضرر گردد، مسؤل پنداشته نمی شود. مشروط بر اینکه در دفاع از قدر ضرورت تجاوز نکرده باشد، در غیر آن به جبران خساره مکلف میگردد.

مادهٔ- ۷۸۵

ضررشدید با ایراد ضرر خفیف دفع می گردد. شخصیکه جهت حمایه نفس خود بیشتر از ضرریکه به او رسیده بغیر ضرر برساند، به جبران خسارهٔ ایکه محکمه آنرا عادلانه پندارد، محکوم میگردد.

مادهٔ- ۷۸۶

ضررخاص، جهت دفع ضررعام تحمل

دپاره منل کيږي.

**۷۸۷- ماده**

(۱) فعل فاعل ته مضافيږي نه آمرته، مگر داچه فاعل مجبوره شوی وی. په فعلی تصرفونو کښی يواځی پوره زور، داعتبار وړ مجبوريت گڼل کيږي.

(۲) دعمومی خدمتونو مؤظف چه بل چا ته ضرر ورسوی هغه وخت مسئول نه گڼل کيږي چه هغه يی د خپل داسی آمر په امر اجراء کړی وی چه اطاعت يی لاژم دی او يايی په وجوب عقيده ولری، او ثابته کی چه دکوم عمل ارتکاب کوونکی شوی دی، دهغه په عقيده مشروع وو او ثابته کی چه اعتقاد يی په معقولو سببونو بناوو او پخپل عمل کښی يی دپوره احتياط څخه کار اخيستی دی.

**۷۸۸- ماده**

د ضرر رسول او دضرر مقابله په ضرر جواز نه لری، همدارنگه ضرر د هغی په مثل نه زائليږي.

**۷۸۹- ماده**

که د مضر فعل مسؤل کسان ډيروی نو د ضرر د تعويض په الزام کښی متضامن دی او مسؤليت د هغوی

می گردد.

**مادۀ- ۷۸۷**

(۱) فعل به فاعل آن نسبت داده میشود نه به آمر، مگر اینکه فاعل مجبور گردیده باشد. درتصرفات فعلی تنها اکراه تام، مجبوریت معتبر پنداشته میشود.

(۲) مؤظف عام از فعلی که غیر را متضرر ساخته وقتی غیر مسؤل پنداشته میشود که آنرا به اساس امر آمری که اطاعت امروی واجب بوده ویا بموجب آن اعتقاد داشته باشد، اجراء نماید. همچنان اعتقاد خود را، در مورد مشروعیت فعل مذکور مستند به اسباب معقول و رعایت احتیاط مقتضی در آن، ثابت نماید.

**مادۀ- ۷۸۸**

رساندن ضرر و مقابله ضرر با ضرر جواز ندارد، همچنان ضرر با مثل آن رفع نمی گردد.

**مادۀ- ۷۸۹**

هرگاه مسؤلین فعل مضر، متعدد باشند، در جبران خساره مسؤلیت مساوی دارند. مگر اینکه قاضی

ترمنځ مساوي دي مګر که قاضي په تعويض کښې د هر يوه حصه وټاکله.

## څلورم مبحث- دبل دعمل څخه مسؤليت

۷۹۰- ماده

پلار او نيکه بالترتيب د هغه ضرر د تعويض په ورکولو مکلف دي چه صغير نه صادر شوی، پلار او نيکه کولی شي چه ثابت کی چه د څارنی وظيفه يی ترسره کړی، نو په دی حالت کښې دمسؤليت څخه خلاصيږی يا داچه ضرر د څارنی د وجيبی د ادا کولو سره هم هرو مرو واقع کيده.

۷۹۱- ماده

(۱) که څوك د قانون په حکم يا د موافقی په اساس د يو شخص د نظارت مکلفيت په غاړه ولری، کوم شخص چه د هغه د نظارت لاندی دی، لکه صغير او ليونی نو د هغه د مضرو کارونو مسؤل ګڼل کيږی.

(۲) استخدام کوونکی د خپل لاس لاندی استخدام شوی شخص د هغه کارونو مسؤل دی، چه د وظيفی د اجراء کولو په وخت کښې د هغه د غير

حصۀ هر کدام را در جبران خساره تعيين نمايد.

## مبحث چهارم- مسؤليت از عمل غير

مادۀ- ۷۹۰

پدر و پدر کلان بالترتيب به جبران خساره ضرريکه صغير عايد نموده، مکلف می باشد. مگر در صورتيکه ثابت نمايد، مراقبت لازم را در زمينه انجام داده يا اينکه ضرر با وجود مراقبت لازم حتماً واقع می گرديد.

مادۀ- ۷۹۱

(۱) شخصيکه بحکم قانون يا موافقه، مکلفيت نظارت شخص را داشته باشد، از اعمال مضرۀ شخص تحت نظارت خود، مانند صغير و مجنون مسؤل پنداشته ميشود.

(۲) استخدام کننده از ضرريکه ازطرف شخص تحت استخدام وی به سبب عمل غير مجاز حين اجرای وظيفه و يا به سبب آن واقع

مجاز کار په سبب او یا د هغې په سبب واقع کیږی، مگر داچه موافقه یا قانون بل رنگه صراحت ولری.

**۷۹۲- ماده**

هغه څوك چه د بل د عمل مسؤل دی، کولی شی چه د خپل ورکول شوی ضمان د خپل تابع شخه وغواړی.

**پنځم مبحث- د حیوان او شیانو څخه مسؤلیت**

**۷۹۳- ماده**

کومه جنائی حادثه چه د حیوان څخه پیداکیږی مسؤلیت نه لری، مالک هغه وخت د حیوان د ضرر رسولو مسؤل دی چه ثابته شی چه د هغه له خوا د حادثی د واقع کیدو د مخ نیوی دپاره لازم احتیاط نه وو نیول شوی.

**۷۹۴- ماده**

که مالک خپل حیوان ولیدلو چه د بل چا مال ته ضرر رسوی او منعی یی نه کړ، یا د خپل حیوان د عیب څخه خبر وو او د هغی ساتنه یی ونه کړه، ضامن گڼل کیږی.

**۷۹۵- ماده**

که څوك خپل حیوان د چا په ملکیت کښی بی د هغه د اجازی داخل کی، د

میگردد، مسؤل پنداشته میشود. مگر اینکه قانون و یا موافقه طور دیگری تصریح نماید.

**مادۀ- ۷۹۲**

مسؤل از عمل غیر، میتواند جبران خساره ای را که پرداخته است، از عامل مطالبه نماید.

**محبث پنجم- مسؤلیت از حیوان واشیاء**

**مادۀ- ۷۹۳**

حادثه جنائی ایکه از حیوان به وقوع میرسد، مسؤلیت بار نمی آرد. مالك وقتی مسؤل جبران خسارۀ عایده از حیوان می گردد که عدم اتخاذ احتیاط لازم از طرف وی، برای جلوگیری از وقوع حادثه ثابت گردد.

**مادۀ- ۷۹۴**

هرگا مالك، حیوان را در حال رساندن ضرر به مال غیر دیده و آنرا جلوگیری ننماید و یا از عیب حیوان آگاه بوده و آنرا محافظت نکرده باشد، مسؤل پنداشته میشود.

**مادۀ- ۷۹۵**

هرگاه شخصی حیوانی را در ملك غیر بدون اجازۀ وی داخل نماید به

رسيدلی ضرر ضامن ګڼل کیږي.

**۷۹۶- ماده**

(۱) د عمارت ساتونکی که څه هم د هغی مالک نه وی د نړیدو څخه د پیدا شوی ضرر که څه هم نړیدل جزئی وی مسؤل ګڼل کیږي، مګر داچه ثابته شی چه نړیدل د ساتنی د اهمال په سبب یا د عمارت د زوړوالی یا د هغی د عیب په سبب صورت موندلی.

(۱) هـرگـاه دائـن حـق خـود را بـه شـخص دیـگری حوالـه دهـد و مـدیون ايـن حوالـه را صـراحتاً قبـول نـمايد، مـدیون بعـد از آن نـميتواند بمجرائـی عليـه حوالـه گـيرنده، تمسك نمايد. گرچه پيش از قبـولی حـواله چنين حـق را دارا بـوده بـاشد، مـدیون درين صـورت حق رجوع را نـدارد، مگر عليه حواله

حق لري.

(۲) پوروړی ته یواځی د حوالی خبرتیا بی د هغه د قبلولو، په مجراء کولو د تمسک مانع نه ګرځی مګر داچه د مجرا کولو د دعوی د مورد حق د حوالی د خبرتیا وروسته د حوالی ورکوونکی په ذمی ثابت شوی وی.

## اووم قسمت
## د ذمی یووالی

**۹۴۷- ماده**

که په یوه پور کښی دپوروړی او پور ورکوونکی صفتونه په یوه شخص کښی جمع شی. ذکر شوی پور په هغی اندازی چه په کښی دذمی یووالی صورت موندلی ساقطیږی.

**۹۴۸- ماده**

که هغه سبب چه د ذمی یووالی ئی پیداکړی زایل شی، او دا زوا ل رجعی اثر ولری، پور او د هغی ملحقات د علاقی لرونکو اشخاصو په نسبت اعاده کیږی. په دی صورت کښی د ذمی یووالی دا مفهوم لری چه هیڅ پیدا شوی نه ده.

دهنده.

(۲) محض ابلاغ حواله به مدیون، بدون قبول وی مانع تمسک به مجرائی نمی گردد، مگر اینکه حق مورد ادعای مجرایی بعد از ابلاغ حواله به ذمۀ حواله دهنده ثابت شده باشد.

## قسمت هفتم
## اتحاد ذمه

**مادۀ ۹۴۷**

هرگاه در دین واحد صفات دائن و مدیون در یك شخص جمع گردد، دین مذکور به اندازۀ که اتحاد ذمه در آن صورت گرفته، ساقط می شود.

**مادۀ ۹۴۸**

هرگاه سببیکه اتحاد ذمه را بوجود آورده، زایل گردد و این زوا ل اثر رجعی داشته باشد، دین وملحقات به نسبت اشخاص ذی علاقه اعاده می گردد. اتحاد ذمۀ در این صورت طوری تلقی می گردد که اصلاً بوجود نیآمده است.

## ثلورم باب
## د حق پای ته رسیدل

### لمړی فصل
### ابراء

**۹۴۹- ماده**

د حق ابراء به یا د ساقطیدلو ابراء وی او یا به د پوره اخیستلو ابراء وی.

**۹۵۰- ماده**

د ساقطیدلو ابراء داده چه پور ورکوونکی خپل پوروړی ته دخپل ټول حق یا د ځینی حق په ساقطیدلو ابراء ورکی، د پوره اخیستلو ابراء هغه ده چه پوروړی د خپل ټول حق په قبضولو اقرار وکی.

**۹۵۱- ماده**

ابراء به یا د یوه حق یا یوی دعوی پوری خاصه وی او یا به عامه وی چه د ټولو حقوقو او دعوو شخه به وی.

**۹۵۲- ماده**

د ابراء د صحت دپاره دا شرط ده چه ابراءکوونکی د تبرع اهلیت ولری.

**۹۵۳- ماده**

ابراء د پوروړی د قبلولو پوری موقوفه

## باب چهارم
## انقضای عقد

### فصل اول
### ابراء

**مادۀ- ۹۴۹**

ابرای حق، به شکل ابرای اسقاط یا ابرای استیفا صورت می گیرد.

**مادۀ- ۹۵۰**

ابرای اسقاط، آن است که دائن مدیون خود را ازتمام یا از قسمتی حق خود بری الذمه گرداند. ابراء استیفا آن است که دائن به قبض حق خود اقرار نماید.

**مادۀ- ۹۵۱**

ابراء یا بصورت خاص، ازیك حق یا دعوی و یا بصورت عام از جمیع حقوق و دعاوی بعمل می آید.

**مادۀ- ۹۵۲**

برای صحت ابراء داشتن اهلیت تبرع ابراء دهنده شرط است.

**مادۀ- ۹۵۳**

ابراء موقوف به قبول مدیون نمی

نه ده، خو په ردولو يې رديږي. که پوروړی د ابراء د قبلولو ترمخه مړشو نو پور د هغه د ترکې څخه نه اخيستل کيږي.

**۹۵۴- ماده**
ابراء د تمليک معنی افاده کوی د هغی تعليق د شرط پوری صحيح دی.

**۹۵۵- ماده**
که پور ورکوونکی د خپل يوی برخی پور څخه په دی شرط پوروړی ته ابراء وکی چه پوروړی به د پور پاتی برخه په ټاکلی وخت کښې اداء کوی، نو که پوروړی شرط په ځای کړو، بری الذمه ګڼل کيږی او که يې شرط په ځای نه کړو نو ټول پور د هغه په ذمه پاتی کيږی.

**۹۵۶- ماده**
هرحق چه ساقطيدل نه قبلوی، ابراء ورڅخه هم نه قبليږی.

**۹۵۷- ماده**
که پوروړی متعدد وی نو په ابراء کښې د هريو پوره ټاکل هرومرو دی.

**۹۵۸- ماده**
ابراء دهغه حقوقو څخه کيدای شي چه

باشد، مگر به رد مدیون رد میشود. اگر مدیون قبل از قبول ابراء وفات نماید، دین از ترکه گرفته نمی شود.

**مادۀ- ۹۵۴**
ابراء معنای تمليك را افاده نموده و تعليق آن به شرط صحيح می باشد.

**مادۀ- ۹۵۵**
هرگاه دائن از يك قسمت دين به اين شرط ابراء دهد كه مديون قسمت باقيماندۀ دين را به وقت معيين اداء نمايد، در صورت ايفای شرط، مديون بری الذمه شناخته ميشود، در غير آن تمام دين به ذمۀ او باقی می ماند.

**مادۀ- ۹۵۶**
حقيكه اسقاط را نمی پذيرد، ابراء از آن جواز ندارد.

**مادۀ- ۹۵۷**
هرگاه مديونين متعدد باشند، تعيين كامل هريك از آنها در ابراء ضرور ميباشد.

**مادۀ- ۹۵۸**
ابراء از حقوقی صورت می گيرد كه

دابراء کولو ترمخه ثابت وی. او هغه پور چه لزوم ئی د ابراء کولو څخه وروسته تحقق پیداکوی هغی ته نه ده شامله، که څه هم د پورسبب دابراء کولو ترمخه پیدا شوی وی.

**۹۵۹- ماده**

هر هغه حق چه د خاصی یا عامی ابراء متضمن وی د هغی په باره کښی دعوی د اوریدلو وړنه ده.

## دوهم فصل
## د تنفیذ محال والی

**۹۶۰- ماده**

که پوروړی ثابته کی چه د تعهد اداء کول دهغه سبب له امله چه دهغه د ارادی څخه د باندی دی محال شوی وی نو تعهد پای ته رسیږی.

**۹۶۱- ماده**

که یوشی د عقد په اساس یا د هغی په غیر د مالک څخه بل چاته انتقال وکی او بی له تیری او تقصیر څخه هلاک شی. نو که تصرف د ضمان سره وو، د هلاک تاوان په متصرف لازمیږی او که تصرف د امانت تصرف وو، نو تاوان نه لری.

قبل از ابراء ثابت باشد وشامل دینیکه لزوم آن بعد از ابراء تحقق پذیرد، نمی گردد. گرچه سبب دین قبل از ابراء موجود شده باشد.

**مادۀ- ۹۵۹**

دعوی، در هرحقیکه متضمن ابراء خاص یا ابرای عام باشد، قابل سمع نیست.

## فصل دوم
## عدم امکان تنفیذ

**مادۀ- ۹۶۰**

هرگاه مدیون ثابت نماید، که وفا به تعهد به سببیکه خارج از ارادۀ او بود ناممکن شده، تعهد ساقط می گردد.

**مادۀ- ۹۶۱**

هرگاه یك شی، به اساسی عقد یا بدون آن به تصرف شخص غیر مالك درآید و شی مذکور بدون تجاوز و قصور از دست این شخص تلف گردد، در صورتیکه تصرف باضمان باشد، تاوان آن برمتصرف لازم می گردد و اگر تصرف به صفت امانت باشد، تاوان ندارد.

**۹۶۲- ماده**

تصرف هغه وخت دضمان سره دی چه تصرف کوونکی یوشی دملکیت په قصد دخپل حیازت لاندی راوړی وی، او که تصرف کوونکی یوشی دمالک څخه دنیابت په قصد پخپل حیازت کښی راوړی وی، داتصرف امانت ګڼل کیږی.

**مادۀ- ۹۶۲**

تصرف وقتی باضمان شناخته می شود که متصرف شی را به قصد تملك به حیازت خود در آورده باشد. واگر متصرف شی را به قصد نیابت از مالك به حیازت خود در آورده باشد، این تصرف امانت شناخته می شود.

**۹۶۳- ماده**

د امانت تصرف هغه وخت د ضمان په تصرف بدلیږی چه تصرف کوونکی د شی مالک، ناحقه د خپل مال د تصرف کولو څخه منع کی یائی بی د مالک د اجازی واخلی، که څه هم د ملکیت په قصد نه وی.

**مادۀ- ۹۶۳**

تصرف امانت، وقتی به تصرف با ضمان مبدل می گردد که متصرف مالك شی را بغیر حق از تصرف مانع گردد یا آنرا بدون اجازۀ مالك اخذ نماید، گرچه به قصد تملك صورت نگرفته باشد.

**۹۶۴- ماده**

(۱) که د شی ملکیت د عقد په اساس انتقال شی، د پخوانی مالک تصرف د ضمان سره تصرف ګڼل کیږی.

(۲) که نوی مالک چه د شی تسلیمیدل ورته واجب شوی دشی دتسلیمیدو څخه ځان وژغوری نو د پخوانی مالک تصرف د امانت په تصرف بدلیږی.

**مادۀ- ۹۶۴**

(۱) هرگاه ملکیت شی به اساس عقد انتقال نماید، تصرف مالك سابقه قبل از تسلیمی شی، تصرف با ضمان شناخته می شود.

(۲) در صورتیکه مالك، بنابر اسباب حق نگهداشت، از تسلیمی شی امتناع ورزد، تصرف او به تصرف امانت مبدل می گردد.

## درېيم فصل
## د زمانی تیریدل چه حق پای ته رسوی

**۹۶۵- ماده**

(۱) حق د زمانی په تیریدلو پای ته نه رسیږی.

(۲) په منکر د حق دعوی په هر سبب چه وی د پنځلسو کلو نو د تیریدو وروسته او د خاصو حکمونو په نظر کښی نیولو او د لاندنیو استثنأ آتو په مراعات کولو سره، نه اوریدله کیږی:

**۹۶۶- ماده**

که استمراری، دورانی نوی کیدونکی حقوق لکه د کورونو کرایه، دمځکو اجاره، معاشونه، بی دقانونی عذر څخه د پنځو کلونو په اوږدو کښی ونه غو ښتل شی، نو دعوی یی نه اوریدل کیږی. د هغه حاصلاتو دعو ی چه دبد نیت تصرف کوونکی په ذمه پاتی وی یا هغه مستحقه ګټه چه دوقف دناظر په ذمه پاتی وی دهغی دعوی تر پنځلسو کلونو پوری اوریدل کیږی.

**۹۶۷- ماده**

په راتلونکو حقوقو کښی دیوه کال وروسته، دعوی داوریدلو وړنه ده:

۱- دطبیب، استاد، ددفاع دوکیل او دمهندس حقوق چه دوظیفی دسرته

## فصل سوم
## سقوط حق به مرور زمان

**مادهٔ- ۹۶۵**

(۱) حق به مرور زمان ساقط نمی گردد.

(۲) دعوی مطالبه حق بنا بر هر سببی که باشد، علیه منکر، بعد از مرور پانزده سال با رعایت احکام خاص آن واستثناآت ذیل شنیده نمیشود:

**مادهٔ- ۹۶۶**

هرگاه حقوق، مستمر دوری متجدد، از قبیل کرایه منازل، اجاره اراضی ومعاشات که بدون عذر قانونی در ظرف مدت پنج سال مطالبه نشود، قابل سمع نمی باشد. اما مدت مرور زمان در حاصلاتیکه بر ذمه متصرف دارای نیت سوء و یا بر ذمهٔ ناظر وقف باشد، پانزده سال است.

**مادهٔ- ۹۶۷**

دعوی در حقوق آتی بعد از انقضای مدت يك سال قابل سمع نمی باشد:

۱- حقوق طبیب، استاد، مهندس، وکیل مدافع ناشی از انجام وظیفه و

رسولو ځخه پیدا شوی وی، په عمومی ډول دهر شخص حقوق چه آزاد کار ولری لکه دوا خرڅوونکی دلال، کمیشن کار او پوهان.

۲- د تاجر اوکسب کوونکی، هغه حقوق چه شیان یی خلکوته وارد کړی یا ئی صادرکړی وی او په دی شیانو کښی تجارت نه کوی.

۳- د هوټلونو دخاوندانو او رستورانونو حقوق دشپی داوسیدلو اوطعام او نورو مصرفونو په مقابل کښی.

۴- دکارگر، مستخدم او اجیر حقوق چه د ورځنی یاغیر ورځنی اجوری ځخه پیدا شوی وی.

۹۶۸- ماده
د دی قانون په (۹۶۷) مادی کښی په درج شوو حالونو کښی دعوی نه اوریدل کیږی، که څه هم ذکر شوی اشخاص په خدمتونو، کارونو او تولیدولو مشغول وی.

۹۶۹- ماده
که څوك دیوه کال په تیریدو د دعوی په نه اوریدلو تمسک کوی، نوچه دمحکمی له خوا ورته قسم متوجه کیږی باید داسی سوگند یاد

بطور عموم حقوق هرشخصی که شغل آزاد داشته باشد، مانند ادویه فروش دلال وکمیشن کار واهل خبره.

۲- حقوق تاجر وصنعت گر، در مقابل اشیاء وارداتی وتولیداتی ایکه برای اشخاص دیگر داده شده واشخاص مذکور در آن تجارت نه نمایند.

۳- حقوق صاحبان هوتل و رستورانت، در مقابل اجرات شب باش، قیمت طعام و دیگر مصارف.

۴- حقوق کارگر، مستخدم واجیر، ناشی از اجوره روز مره و یا غیر روز مره.

مادهٔ- ۹۶۸
دعوی در موارد مادهٔ(۹۶۷) این قانون، گرچه اشخاص مذکور به انجام خدمات، کار وتولیدات ادامه بدهند، قابل سمع نمی باشد.

مادهٔ- ۹۶۹
شخصیکه به عدم سمع دعوی به سبب مرور زمان یك سال تمسك می نماید باید در برابر توجیه سوگند از جانب محکمه، چنین سوگند یاد

کی، چــــه زه دپور ښخه بری الذمه یـم، کــه قسـم د پــوروړی وارثــانو، اولیـاوو، وصیانو او قیمانوتـه متوجه شو، باید چه دارنگه سوګند یاد کی، چه د پور په وجود یادهغی په اداکولو خبر نه یو.

### ۹۷۰- ماده

(۱) د دی قــانون د(۹۶۷) مــادی درج شوی د زمانی تیریدل د ورسپارل شوی وظیفـی دپـای تـه رسیدوښخه شـروع کیږی، که څه هم پور ورکوونکی نـورو وظیفو ته دوام ورکی.

(۲) کـه کـوم حق ددی حقوقـو ښخـه پـه سند کښی ولیکـل شی، د داسی حق غوښـتنه نـه سـاقطیږی مگـر داچه بـی دکـوم قـانونی عـذر ښخـه داسـتحقاق دنېټی ښخه د پنځلسو کلونـو پـه اوږدو کښی نه وی غوښتل شوی.

### ۹۷۱- ماده

که سلف دعوی پریږدی او دهغـه خلف هـم یوڅـه مـوده دعـوی پریـږدی او دا دواړه مودی د زمانی د تیریدلو ټاکلی مـوده پـوره کـی، نـو کـه دعـوی کـوی داوریدلو وړنه ده.

### ۹۷۲- ماده

د زمــانی د تیریـدلو مـوده پـه ورځـو

نمایـد، کـه ذمـت او از دیـن بـری مـی باشـد. در صـورت توجیـه سـوگند بـه ورثـه مـدیون یـا اولیـاء اوصـیا وقـیم شان، باید چنین سوگند یاد نمایند، کـه بـه وجـود یـا بـه تادیـهٔ دیـن علـم ندارد.

### مادهٔ- ۹۷۰

(۱) مـدت مـرور زمـان منـدرج مـادهٔ (۹۶۷) ایـــن قـانون از خـتم وظیفـه محوله شـروع میشود، گرچه دائنین بـه اجـرای وظـایـف دیگـری ادامـه دهند.

(۲) اگـر حقـی از حقـوق مسـتند بـه سـندی تحـریر شـده باشـد، دعـوی مطالبه چنین حـق ساقط نمی شود. مگـر اینکـه بـدون عـذر قــانونی در ظـرف مــدت پـانزده سـال از تـاریخ استحقاق مطالبه نشده باشد.

### مادهٔ- ۹۷۱

هرگاه سلف ترك دعوی نماید و خلف او نیز مدت دیگری ترك دعوی کند، طوریکـه مجمـوع هـردو مـدت معیـار مقـرر مـرور زمـان را تکمیـل کنـد، دعوی قابل سمع نمی باشد.

### مادهٔ- ۹۷۲

مــدت مــرور زمــان بــه اعتبــار روز

حسابيږي نـه په ساعتونو، لمړنی ورځ پـه مـودی کښی نـه حسابيږي او د آخرنی ورځـی پـه تيريدلو، موده پوره کيږي.

محاسبه ميشود نه به اعتبار ساعت، روز اول درمدت حساب نشده و به انقضای روز اخير مدت تکميل می شـود.

**۹۷۳- ماده**

(۱) د دعـوی دنـه منلو تـاکلی مـوده د پـور د ادا کولـو د استحقاق د نېټـی څخه شروع کيږي.

(۲) د دعـوی دنـه منلو تـاکلی مـوده دهغـه پـور پـه بـاره کښی چـه د شرط پـوري معلـق وی د شـرط د تحقـق د نېټی څخـه، او دضمان د استحقاق پـه بـاره کښـی د استحقاق د ثابتيـدو د نېټـی څخـه، او دمؤجل پـور پـه بـاره کښـی دمـودی دتيريـدو دنېټـی څخـه، شروع کيږي.

(۳) کـه د پـور د اداء کولـو دمـودی ټاکل، د پور ورکوونکی د ارادی پوری موقوف وی نو دزمانی دتيريدلو موده دهغی نېټی څخه شروع کيږي چه پور ورکـوونکی دخپلی ارادی په ظاهرولو قادر شي.

**مادهٔ- ۹۷۳**

(۱) مدت معيينـه عـدم سمع دعـوی، از تـاريخ استحقاق تاديـه ديـن شروع می شود.

(۲) مـدت معيينـهٔ عـدم سـمع در مـورد ديـن معلـق بشرط، از تاريـخ تحقـق شـرط و در مـورد ضـمان اسـتحقاق، از تـاريخ تـثبيت اسـتحقاق و در مـورد ديـن مـؤجل، ازتـاريخ انـقضای ميـعاد، شـروع مـيشود.

(۳) اگـر تـعيين ميعـاد پـرداخت ديـن بـه ارادهٔ دائـن مـوقـوف بـاشـد، مـدت مـرور زمـان از تـاريخی شـروع مـی شـود کـه دائـن بـه اظهـار ارادهٔ خـود قـادر گـردد.

**۹۷۴- ماده**

(۱) دمـاليو او محصـول دعـوی چـه دولـت ئـی مستحق وی د پنځـو کلونو دتيريـدلو وروستـه نـه اوريدلـه کيـږي،

**مادهٔ- ۹۷۴**

(۱) دعـوی مـاليـات ومحـصول کـه دولـت مسـتحق آن شـناخته ميشـود، بـعد از مـرور پـنج سـال

دمالیو په باره کښې د زماني دتیریدلو موده د استحقاق دنېټې دپای ته رسیدو څخه او دقضائی پاڼو دمحصول په باره کښې دهغې دعوی دپای ته رسیدو دنېټې څخه چه ذکر شوی پاڼې دهغې په باره کښې لیکل شوی او یا د پاڼو دلیکلو دنېټې څخه که چیرته دعوی نه وی اقامه شوی، شروع کیږی.

(۲) دمالیې د بیرته اخیستلو دعوی او دهغه محصول دعوی چه بل چاته ورکول شوی وی، د پنځو کلونو وروسته نه اوریدله کیږی، ذکر شوی موده د اداکولو د نېټې څخه شروع کیږی.

(۳) که پورتنی حکمونه دخاصو قانونو دحکمونو ضد واقع شی، نو دخاصو قانونوحکمونو ته ترجیح ورکول کیږی.

**۹۷۵- ماده**

(۱) د دعوی د نه منلو ټاکلی موده په قانونی عذر، معنوی موانعو، او په داسی مانع چه د پور ورکوونکی د حق غوښتنه محاله کی، متوقف کیږی.

(۲) کومه موده چه د عذر سره تیره شوی، اعتبار نه لری.

شنیده نمی شود. مدت مرور زمان در مالیات، از انتهای تاریخ استحقاق و در محصول اوراق قضائی، از تاریخ انتهای اقامه دعویکه اوراق مذکور در مورد آن تحریر یافته یا تاریخ تحریر اوراق، درحالیکه دعوی اقامه نشده باشد، شروع می شود.

(۲) دعوی استرداد مالیه و محصولیکه به غیر حق پرداخته شده باشد، بعد از پنج سال شنیده نمیشود، مدت مذکور از تاریخ تادیه شروع میشود.

(۳) اگر احکام فوق به احکام قوانین خاص متناقض واقع شود، احکام قانون خاص تطبیق می گردد.

**مادهٔ- ۹۷۵**

(۱) مدت معیینه عدم استماع دعوی، به عذر قانونی موانع معنوی ومانعیکه مطالبه حق دائن را غیر ممکن گرداند، متوقف می گردد.

(۲) مدتیکه باوجود عذر سپری گردیده، اعتبار ندارد.

۹۷۶- ماده

که ځینی وارثان بی له عذره په ټاکلی مودی کښی دخپل مورث د پور دعوی ترک کی، او نور وارثان د دعوی په ترك کولو کښی قانونی عذر ولری، نو دهغه وارثانو دعوی چه بی له عذره یی دعوی ترک کړی په پورکښی دهغوی دحصو په اندازه، داوریدلو وړ نه ده.

مادۀ- ۹۷۶

هرگاه بعضی از ورثه، بدون عذر، درمدت معیینه، دعوی دین مورث خود را ترک نماید وباقی ورثه در ترک دعوی عذر قانونی داشته باشند، دعوی ورثۀ باقیمانده، به قدر حصۀ شان از دین قابل سمع میباشد.

۹۷۷- ماده

د دعوو د نه اوریدلو ټاکلی موده په قضائی غوښتنی که څه هم دعوی غیر اختصاصی محکمی ته وړاندی شوی وی، په خبرتیا، په حجز، یا دهغی غوښتنی په اثر چه پور ورکوونکی ئی په افلاس یا توزیع کښی د خپل حق دقبلولو د پاره وړاندی کوی. همدارنگه په هر عمل کښی چه پور ورکوونکی دکومی دعوی دجریان په وخت کښی پخپل حق تمسک وکی، قطع کیږی.

مادۀ- ۹۷۷

مدت معیینه عدم استماع دعاوی، به مطالبه قضائی، گرچه دعوی به محکمه غیر مختص به آن تقدیم شده باشد، به اخطار به حجز یا بدرخواستی ایکه دائن جهت قبول حق خود، در تفلیس، یا در توزیع وتقسیم اموال مدیون مفلس بالای دائنین، تقدیم می نماید، همچنان در هر عملیه دائن در اثنای جریان یکی از دعاوی به حق خود تمسك نماید، انقطاع می یابد.

۹۷۸- ماده

(۱) که پوروړی د پور ورکوونکی په حق په صراحت یا په دلالت اقرار وکی، د دعوی دنه اوریدلو ټاکلی موده قطع کیږی.

(۲) که پوروړی دپور د اداء کولو دتأمین د پاره دگروی په توگه پور

مادۀ- ۹۷۸

(۱) هرگاه مدیون بحق دائن صراحتاً یا دلالتاً اقرار نماید، مدت معیینه عدم استماع دعوی، قطع می گردد.

(۲) اگر مدیون مالی را، طور گروی بمنظور تأمین ادای دین، در تصرف

ورکوونکی ته څه مال ورکی، نو د پوروړی په اقرار دلالت کوی.

**۹۷۹- ماده**

(۱) که د دعوی دنه اوریدلو تاکلی موده قطع شی، نوی موده د لمړنی مودی په څیر دسره شروع کیږی.

(۲) که حکم قطعی شی یا داچه د دعوی دنه اوریدلو تاکلی موده یوکال وی او دپوروړی په اقرار قطع شی، نو ددعوی دنه اوریدلو دپاره نوی موده، پنځلس کاله ده.

**۹۸۰- ماده**

که دعوی د زمانی د تیریدو په سبب په اصلی پور د اوریدلو وړ ونه ګرځی، نو دهغی دملحقاتو په باره کښی هم د اوریدلو وړ نه ده، که څه هم د دعوی د نه اوریدلو تاکلی موده د پور په ملحقاتو کښی نه وی پوره شوی.

**۹۸۱- ماده**

(۱) محکمه نه شی کولی چه مستقیماً د زمانی دتیریدو په نسبت د دعوی د اوریدلو څخه ځان وژغوری مګر دپور ورکوونکی یا دپوروړی د دعوی په اساس یا د بل هرچا د غوښتنی په اساس چه دهغه ګټه په غوښتنه کښی

دائن بگذارد، دلالت به اقرار مدیون می کند.

**مادهٔ- ۹۷۹**

(۱) هرگاه مدت معیینه عدم استماع دعوی انقطاع یابد، مدت جدید مانند مدت اولی، مجدداً آغاز می یابد.

(۲) اگر حکم قطعی شود یااینکه مدت معیینه عدم استماع دعوی یکسال بوده و به اقرار مدیون قطع گردد، مدت جدید برای عدم استماع دعوی، پانزده سال می باشد.

**مادهٔ- ۹۸۰**

هرگاه دعوی راجع به اصل دین به سبب مرور زمان قابل سمع نگردد، در مورد ملحقات آن نیز قابل سمع نمی باشد، گرچه مدت معیینه عدم استماع دعوی در ملحقات دین، تکمیل نه شده باشد.

**مادهٔ- ۹۸۱**

(۱) محکمه نمیتواند مستقیماً نسبت مرور زمان از استماع دعوی امتناع ورزد، مگر به اساس مطالبهٔ مدیون یا دائن و یا هرشخصیکه مصلحت وی در مطالبه متصور

موجوده وی که څه هم پوروړی په هغی تمسک ونه کی.

(۲) د زمانی په تیریدو تمسک د دعوی په هری مرحلی کښی جواز لری، که څه هم داستیناف دمحکمی د وړاندی وی.

۹۸۲- ماده

(۱) د زمانی دتیریدو په سبب د دعوی دنه اوریدلو د دفعی د حق څخه انصراف د دفعی حق د ثابتولو ترمخه جوازنه لری همدارنگه د دواړو خواوو موافقه د دعوی د اوریدلو په عدم جواز دهغی مودی په خلاف چه په دی قانون کښی د زمانی دتیریدلو دپاره په نظر کښی نیول شوی، جواز نه لری.

(۲) که څوك پخپلو حقوقو کښی دتصرف کولو قدرت ولری نوکولی شی چه په هغی کښی د خپل حق دثابتولو وروسته د زمانی پر تیریدلو ددفعی دحق څخه انصراف وکی که څه هم په دلالت وی، خوسره ددی هم دا انصراف د نورو پور ورکوونکو په حق کښی چه ورڅخه متضرر کیږی، نافذ نه گڼل کیږی.

باشد، گرچه مدیون به آن تمسك نه نماید.

(۲) تمسك به مرور زمان بهر مرحله دعوی جواز دارد، گرچه به پیشگاه محکمه استیناف باشد.

مادهٔ- ۹۸۲

(۱) انصراف از حق دفع بعدم استماع دعوی بسبب مرور زمان قبل از ثبوت حق، دفع در آن جواز ندارد، همچنان موافقه طرفین به عدم جواز استماع دعوی، در مدتیکه خلاف مدتهای باشد که درین قانون به منظور مرور زمان پیش بینی شده است، جواز ندارد.

(۲) شخصیکه قدرت تصرف را درحقوق خود داشته باشد، می تواند بعد از ثبوت حق خود در آن از حق دفع به مرور زمان انصراف نماید، گرچه دلالتاً باشد، این انصراف در حق دائنین دیگریکه از آن متضرر شوند نافذ نمیباشد.

## پنځم باب
## دحق ثابتول

## لمړی فصل
## عمومی قاعدی

**۹۸۳- ماده**
په کوم دلیل کښی چه احتمال پیدا شی، استدلال وربانڊی ساقطیږی.

**۹۸۴- ماده**
کوم شی چه په دلیل ثابتیږی لکه چه په مشاهدی ثابت شوی وی.

**۹۸۵- ماده**
د ذمی برائت اصلی حالت دی.

**۹۸۶- ماده**
یقین په شک نه زائلیږی.

**۹۸۷- ماده**
شاهدان په مدعی او قسم په منکر دی.

**۹۸۸- ماده**
شاهدان دظاهر د خلاف د ثابتولو دپاره دی او قسم د اصل دپاتی کیدو دپاره دی.

**۹۸۹- ماده**
دنوی پیدا شوی شی اضافت دهغی ډیر نږدی وخت ته کیږی.

## باب پنجم
## اثبات حق

## فصل اول
## قواعد عمومی

**مادۀ- ۹۸۳**
دلیلیکه احتمال در آن راه یابد، استدلال به آن ساقط می گردد.

**مادۀ- ۹۸۴**
ثابت به برهان، مانند ثابت به مشاهده است.

**مادۀ- ۹۸۵**
برائت ذمه حالت اصلی است.

**مادۀ- ۹۸۶**
یقین به شك زایل نمی شود.

**مادۀ- ۹۸۷**
شهود برمدعی و قسم برمنکر است.

**مادۀ- ۹۸۸**
شهود جهت اثبات خلاف ظاهر وقسم جهت ابقای اصل است.

**مادۀ- ۹۸۹**
اضافت حادث، به نزدیك ترین وقت آن تعیین میشود.

۹۹۰- ماده

دشی پاتی کیدل پخپل حالت، اصل دی. او په معارضو صفتونو کښی نشتوالی دی.

## دوهم فصل
## سندونه

## لمړی قسمت
## رسمی سند

۹۹۱- ماده

(۱) رسمی سند یوه پاڼه ده چه عمومی مؤظف یا دعمومی خدمتونو کار کوونکی دقانون دحکمونو په اساس دخپل اختصاصی واک په حدودو کښی کوم شی چه دهغوی په حضور کښی پای ته رسیدلی یائی دعلاقی لرونکو اشخاصو څخه ترلاسه کوی په کښی ئی درج او ثبت کړي وی.

(۲) که ذکر شوی پاڼه د رسمی سند صفت پیدا نه کی مگر علاقه لرونکی اشخاص هغه امضاء، مهر یا په گوته نښه کړی وی دعرفی سند حیثیت لری.

۹۹۲- ماده

د رسمی سندونو محتویات چه ددی قانون د(۹۹۱) مادی کښی درج شوی دی، حجت گڼل کیږی خو په دی شرط

مادۀ- ۹۹۰

اصل بقای شی به حالت اصلی و درصفات معارض، عدم است.

## فصل دوم
## اسناد

## قسمت اول
## سند رسمی

مادۀ- ۹۹۱

(۱) سند رسمی ورقی است که مؤظف عمومی یا کارکنان خدمات عامه به اساس احکام قانون در حدود صلاحیت اختصاصی خویش آنچه را بحضور شان گذارش می یابد یا از اشخاص ذیعلاقه کسب میکند، در آن درج وثبت نموده باشند.

(۲) در صورتیکه ورق مذکور صفت سند رسمی را کسب ننموده، مگر اشخاص ذی علاقه به آن امضاء، مهر یا نشان انگشت نموده باشند، حیثیت سند عرفی را دارد.

مادۀ- ۹۹۲

محتویات اسناد رسمی مندرج مادۀ (۹۹۱) این قانون حجت شمرده میشود،

چه په هغې کښې داسې تزویر ښکاره نه شي چه په قانون کښې توضیح شوی دی.

ماده ۹۹۳-

(۱) که درسمی سند اصل موجود وی نو رسمی نقل ئی عام له دی چه لیکلی وی او که فوتو کاپی شوی وی تر هغې اندازی چه داصل سره مطابقت ولری حجت ګڼل کیږی.

(۲) ترڅو چه د دواړو خواوو څخه کوم یو دسند دنقل په مطابقت باندی د سند داصل سره اعتراض ونلری دسند نقل دسند د اصل مطابق ګڼل کیږی او که اعتراض پیدا شو نو اصلی سند ته رجوع کیږی.

۹۹۴- ماده

که اصلی سند موجود نه وو نو دسند نقل په لاندنی ډول حجت ګڼل کیږی:

(۱) په هغه صورت کښې چه رسمی نقل داصلی سند څخه اخیستل شوی وی او دهغی ظاهری شکل داصل سره بی دکوم شک او تردید څخه دمطابقت تائید وکی په دی حالت کښې دواړه خواوی کولی شی چه دهغی دتطبیق غوښتنه داصل سره وکی.

بشرطیکه از جعل و تزویریکه قانوناً تصریح شده، خالی باشد.

مادهٔ- ۹۹۳

(۱) هرگاه اصل سند رسمی موجود باشد، سواد رسمی آن اعم از خطی و فوتو گرافی، در حدودیکه با اصل مطابقت داشته باشد، حجت تلقی میشود.

(۲) مادامیکه یکی از طرفین در مطابقت سواد سند بااصل سند اعتراض نداشته باشد، کاپی سند مطابق اصل تلقی میشود و در صورت اعتراض، به اصل سند مراجعه می گردد.

مادهٔ- ۹۹۴

هرگاه اصل سند رسمی موجود نباشد، به کاپی سند بصورت ذیل اعتبار داده میشود:

(۱) در صورتیکه سواد رسمی از اصل سند گرفته شده وشکل ظاهری آن مطابقت آنرا با اصل، بدون هیچگونه شك و تردید تائید نماید. درین حالت طرفین میتواند، تطبیق آنرا با اصل سند مطالبه نمایند.

(۲) په هغه صورت کښې چه رسمی نقل داصلی سند دنقل څخه اخیستل شوی وی، حجت نه گڼل کیږی مگر قاضی کولی شی چه دهغی څخه د قضائی قرینو په حیث استفاده وکی.

## دوهم قسمت
## عرفی سند

**۹۹۵- ماده**

(۱)کومه عرفی پاڼه چه دامضاء کوونکی، مهر لگوونکی او گوتی لگوونکی له خوا صادره شوی وی، اعتبار لری، مگر دا چه شخص دخپلی امضاء، مهر او گوتی لگولو څخه په صراحت سره منکر شی او یا داچه خاص قانون بل رنگه حکم کړی وی.

(۲) د وارث یاخلف په باره کښی همدومره کفایت کوی چه د بی خبری قسم وکی.

**۹۹۶- ماده**

(۱) دتاریخ له امله عرفی سند پر نورو حجت کیدای شی مگر له هغه وخته چه ثابت تاریخ ولری.

(۲) دسند تاریخ په لاندنی توگه ثابتیږی:

۱- دهغی ورځی څخه چه په مخصوص

(۲) در صورتیکه سواد رسمی از سواد اصل سند گرفته شده باشد، حجت تلقی نمیشود، مگر قاضی میتواند از آن بحیث قرینه قضایی استفاده نماید.

## قسمت دوم
## سند عرفی

**مادۀ- ۹۹۵**

(۱) صدور ورق عرفی از طرف امضاء کننده اعتبار داده میشود، مگر اینکه شخص از امضاء، مهر و نشان انگشت خود صراحتاً انکار نماید. مگر اینکه قانون خاص طور دیگری حکم نموده باشد.

(۲) در مورد خلف یا وارث قسم بعدم علم کفایت میکند.

**مادۀ- ۹۹۶**

(۱) تاریخ سند عرفی بر دیگری حجت شده نمیتواند، مگر اینکه تاریخ آن ثابت باشد.

(۲) تثبیت تاریخ به ترتیب ذیل صورت میگیرد:

۱- از روزیکه در دفتر مخصوص

دفتر کښې درج شوی وی.

درج گردد.

۲- دهغې ورځې څخه چه مضمون يې په بلې داسې پاڼې کښې ثبت شوی وی چه ثابت تاريخ ولري.

۲-از روزيکـــه مضـــمون آن در ورق ديگری کـه تـاريخ ثابت دارد، بـه ثبت رسيده باشد.

۳- لـه هغـې ورځـې څخـه چـه مربـوط عمومي مؤظف هغه ملاحظه او امضاء کړې وی.

۳- از روزيـــکـــه مـــؤظف عـــام مربوطـه، آن را ملاحظـه شـد کـرده باشد.

۴- دهغه چا دمړينې د ورځې څخه چه په سند ئې داعتراف وړ تاثير پرېښې وی. يا د داسې حادثې د ورځې څخه چه دهغې د واقع کيدو ترمخه دسند صادريدل پـه قطعـې صـورت معلـوم شي.

۴- از روز وفـــات يکی از کسـانی کـه در ســـند تـــاثيـــر معتبر از او بجـــا مانـده باشـــد يـــا از روز حـــادثه ايکـه صـدور سند قبـل از وقـــوع آن بـه صـورت قطـع دانسـتـه شـــود.

(۳) محکمـه کـولې شـې دحـالونو سـره سم د دې مـادې د حکـم د تطبيـق څخه په رسيداتو کښې صرف نظر وکې.

(۳) محکمه ميتواند حسب احـوال از تطبيـق حکـم ايـن مـاده در رسـيدات صرف نظر نمايد.

**۹۹۷- ماده**

(۱)امضـاء شـوی ليکونـه دعرفـې سند حيثيت لري.

**مادهٔ- ۹۹۷**

(۱) مکاتيـب امضـاء شـده حيثيـت اسناد عرفی را دارد.

(۲) تـــلگرافي پـاڼې چـه اصـل يـې دتلگـراف خـانې پـــه دفتـر کښـې دتلگرافـې پـه امضـاء موجـود وی، دعرفې سند حيثيت لري، دتلگرام پاڼه دهغـې پـوری اصـل گڼـل کـيږی چـه دهغـې پـه خـلاف کـوم دليـل ظـاهر نـه

(۲) اوراق تلگراميکــه اصــل آن بـــه امضـاء تلگـرام دهنـده در دفتـر تلگـرام خانـه موجـود باشـد، حيثيـت اسـناد عرفی را دارد. ورق تلگرام طبق اصل پنداشته ميشود، تـا زمانيکـه دليلـی بـــه خـــلاف آن ظـــاهر نشـــود و در

شی، او که ئی اصل دمینځه تللی وونو د اعتبار وړنه دی.

**۹۹۸- ماده**

(۱) تجارتی دفترونه دتجارانو په غیر په بل چا حجت کیدای نه شی، مگر هغه اظهارات چه په دی دفترونو کښی ثبت شوی وی نو دمحکمی په نزد د دواړو خواوو څخه یوی خواته دقسم دتوجیه کولو اساس کیدای شی اوداپه هغی حالت کښی چه ثابتول یی دشاهدانو په شهادت جواز ولری.

۲- کوم تجارتی دفترونه چه په منظمه توگه ترتیب شوی وی په دی تجارانو حجت کیدای شی، که څوك په دی دفترونو تمسک کوی نونه شی کولی یوائی په هغه څه تمسک وکی چه گټه ئی ثابتوی، او هغه څه چه دهغه ددعوی نقیض دی هغه ردکی.

**۹۹۹- ماده**

کورنی دفترونه او پاڼی په هغه چاچه هغه ئی لیکلی دی حجت کیدای نه شی مگر په لاندینو دوه حالونو کښی:

۱- په هغه حالت کښی چه په هغی کښی په صراحت ذکر شوی وی چه خپل پورمی پوره اخیستی دی.

۲- په هغه حالت کښی چه په کښی ئی

صورتیکه اصل آن از بین رفته باشد، از اعتبار ساقط میگردد.

**مادهٔ- ۹۹۸**

(۱) دفاتر تجارتی بر غیر تجار دلیل شده نمیتواند، مگر اظهاراتیکه در دفاتر مذکور به ثبت رسیده باشد، اساس توجیه قسم برای یکی از طرفین نزد محکمه شده میتواند، و آنهم در مواردیکه اثبات آن به شهادت جواز داشته باشد.

۲- دفاتر تجارتی که طور منظم ترتیب شده باشد، علیه تجار دلیل شده میتواند، کسانیکه به این دفاتر تمسك می نمایند، نمی توانند تنها به آنچه که نفع او را ثابت می سازد، استدلال نماید و آنچه مناقض دعوی اوست، رد نماید.

**مادهٔ- ۹۹۹**

دفاتر و اوراق غیر تجارتی بر کسیکه از طرف اوترتیب وتحریر شده دلیل شده نمیتواند، مگر در دوحالت ذیل:

۱- درحالتیکه بصراحت در آن تذکر داده شده باشد که دین خود را کاملاً بدست آورده.

(۲) درحالتیکه به صراحت تذکر داده

په صراحت ذکر کړی وی چه دپاڼو دلیکلو څخه دامقصد وو چه ذکر شوی پاڼی دګټی دخاوند دحق دثابتولو دپاره دسند قایم مقام وی.

شده باشد که مقصد از تحریر اوراق این بوده که اوراق تحریر شده برای ثبوت حق، صاحب مصلحت قایم مقام سند باشد.

۱۰۰۰- ماده

(۱) په اصلی سند کښی دهغه څه لیکنه چه دپوروړی برائت افاده کوی ترڅو چه دهغی په ضد دلیل پیدانه شی، په پور ورکوونکی حجت دی، که څه هم ذکر شوی لیکنه هغه نه وی امضاء کړی، داحکم په هغه صورت کښی دی چه ذکر شوی سند دپور ورکوونکی دتصرف څخه بیخی نه وی وتلی.

مادۂ- ۱۰۰۰

(۱) تحریر آنچه برائت مدیون را افاده کند، در اصل سند تا زمانیکه عکس آن ثابت نشود، بردائن حجت تلقی میشود. گرچه تحریر مذکور به امضاء او نرسیده باشد، این حکم در صورتی است که سند مذکور قطعاً از تصرف دائن خارج نشده باشد.

(۲) کومه لیکنه چه دپور ورکوونکی په لیک بی دهغه دامضاء په اصلی سند کښی شوی وی یا په ځانګړی سند کښی یا په رسید کښی شوی وی او دهغی څخه دپوروړی برائت ثابت شي او هغه دپروړي په لاس کي وي،، هم حجت ګڼل کیږی.

(۲) تحریریکه بخط دائن بدون امضاء در نسخۂ اصلی سند علیحده یا رسید مبنی به برائت مدیون، صورت گرفته وبدسترس مدیون قرار داشته باشد، نیز حجت شمرده میشود.

## دریم فصل
## اقرار

## فصل سوم
## اقرار

۱۰۰۱- ماده

اقرار دجګړی کوونکی دداسی اعتراف څخه عبارت دی چه په محکمی کی

مادۂ- ۱۰۰۱

اقرار، عبارت است از اعتراف خصم نسبت به حق غیر، بالای خودش

یی دبل په حق، چه په ده دی،کوی.

در محکمه.

**۱۰۰۲- ماده**

اقرار دچا دپاره چه اقرار شوی دهغه دقبلولو پوری موقوف نه دی ولیکن دهغه په ردولو ردیږی، که ئی ځینی اقرار رد کړو په پاتی کښی صحیح ګڼل کیږی.

**مادهٔ- ۱۰۰۲**

اقرار به قبول مقر له منوط نبوده، مگر از طرف او رد شده میتواند ، اگر بعضی از آن رد شود اقرار در باقی صحیح است.

**۱۰۰۳- ماده**

(۱) داقرار دصحت دپاره شرط ده چه اقرار کوونکی عاقل، بالغ او حجر کړی شوی نه وی.

(۲) دممیز صغیر اقرار چه ورته اجازه کړه شوی په هغی امورو کښی صحیح دی چه په هغی کښی ورته اجازه شوی وی.

**مادهٔ- ۱۰۰۳**

(۱) برای صحت اقرار شرط است که مقر عاقل، بالغ وغیر محجور علیه باشد.

(۲) اقرار صغیر ممیز مأذون، در اموریکه برایش اجازه داده شده، صحت دارد.

**۱۰۰۴- ماده**

په مجهول شی اقرار صحیح دی، مګر په هغی عقدونو کښی چه جهالت دهغی دصحت مانع ګرځی.

**مادهٔ- ۱۰۰۴**

اقرار به مجهول صحیح است، مگر در عقودیکه جهالت مانع صحت آن باشد.

**۱۰۰۵- ماده**

داقرار کوونکی داقرار دصحت دپاره شرط ده چه دهغه ظاهری حال دهغه اقرار دروغ نه کی.

**مادهٔ- ۱۰۰۵**

برای صحت اقرار مقر، شرط است که ظاهر حال مکذب آن نباشد.

۱۰۰۶- ماده

داقرار په سبب کښې داقرار کوونکی او اقرار کړه شوی اختلاف داقرار دصحت مانع نه ګرځی.

مادۀ- ۱۰۰۶

اختلاف مقر و مقر له در سبب اقرار، مانع صحت آن نمی گردد.

۱۰۰۷- ماده

دشرط پوری داقرار معلق کول صحیح نه دی، مګر که دداسی زمانی پوری معلق شوی وی چه په عرف کښې دهغی دمودی رسیدل ممکن وی.

مادۀ- ۱۰۰۷

معلق ساختن اقرار بشرط جواز ندارد، مگر آنکه به زمانی معلق شده باشد که حلول میعاد آن عرفاً ممکن باشد.

۱۰۰۸- ماده

اقرار کوونکی پخپل اقرار ملزم دی مګر داچه دمحکمی په حکم دروغجن شوی وی په دی صورت کښې دهغه اقرار هیڅ تاثیر نه لری.

مادۀ- ۱۰۰۸

مقربه اقرار خود ملزم میباشد، مگر اینکه از طرف محکمه حکم به کذب اقرار او صادر شود. در این صورت به اقرار او وقعی داده نمی شود.

۱۰۰۹- ماده

داقرار څخه رجوع کول صحیح نه دی.

مادۀ- ۱۰۰۹

رجوع از اقرار اعتبار ندارد.

۱۰۱۰- ماده

اقرار په اقرار کوونکی حجت قاصره دی.

مادۀ- ۱۰۱۰

اقرار حجت قاصره است برمقر.

۱۰۱۱- ماده

اقرار نه تجزیه کیږی مګر دا چه په متعددو نا مرتبطو واقعو بناوی،

مادۀ- ۱۰۱۱

اقرار تجزیه را نمی پذیرد، مگر اینکه بر وقایع متعدد غیر مرتبط نسبت

اودیوی واقعی وجود هرو مرو د نورو واقعو د وجود مستلزم نه وی.

## څلورم فصل
## قسم

### لمړی قسمت
### قاطع قسم

**۱۰۱۲- ماده**
دجګړې دواړه خواوی کولی شی چه دمحکمی په اجازی یو بل ته قاطع قسم متوجه کی.

**۱۰۱۳- ماده**
دقاطع قسم متوجه کول په ټولو مدنی جګړو کښی جواز لری مګر دقسم توجیه کول په هغی واقعو کښی چه دعمومی نظام یاد آدابو مخالفی وی جواز نه لری.

**۱۰۱۴- ماده**
کله چه په یوی دعوی کښی مختلفی غوښتنی یوځای شی جواز لری چه په هغی کښی په یوه قسم اکتفاء وشی.

**۱۰۱۵- ماده**
چا ته چه قسم متوجه کیږی کولی شی چه هغه خپل جګړه مارته ردکی مګر دا چه قسم په داسی واقعی بناوی چه په هغی کښی دجګړې دواړه خواوی

شده که وجود یکی از وقایع، مستلزم وجود وقایع دیگر نباشد.

## فصل چهارم
## قسم

### قسمت اول
### قسم قاطع

**مادهٔ- ۱۰۱۲**
طرفین دعوی میتوانند به اجازه محکمه، قسم قاطع را بیك دیگر توجیه نمایند.

**مادهٔ- ۱۰۱۳**
توجیه قسم قاطع در تمام منازعات مدنی جواز دارد، مگر اینکه واقعه مخالف نظام یا آداب عامه باشد.

**مادهٔ- ۱۰۱۴**
دردعوی واحدیکه مشتمل بر طلبات متعدد باشد، به یك قسم اکتفاء کرده میشود.

**مادهٔ ۱۰۱۵**
طرفیکه قسم به او متوجه گردیده، میتواند قسم را به طرف دیگر رد نماید. مگر اینکه قسم بنا به واقعه باشد که به اشتراك

ګډون ونه لری بلکه یواځی هغه شخص په هغی کښی مستقل وی چه قسم ورته متوجه شوی.

طرفین صورت نگرفته، صرف از جانب طرفیکه توجیه قسم به او شده، انجام یافته باشد.

۱۰۱۶- ماده

چا چه قسم توجیه او یایی رد کړی دی نه شی کولی چه ددواړو خواوو دموافقی وروسته په هغی کښی دسوګندکولو څخه رجوع وکی.

مادۀ- ۱۰۱۶

طرفیکه قسم را توجیه یا رد نموده، نمیتواند بعد از قبولی طرف مقابل به تحلیف از توجیه یا رد رجوع نماید.

۱۰۱۷- ماده

دمحکمی څخه دباندی قسم او نکول اعتبار نه لری.

مادۀ- ۱۰۱۷

قسم ونکول خارج محکمه اعتبار ندارد.

۱۰۱۸- ماده

په قاطع قسم کښی شرط ده چه قسم په داسی واقعی او عمل بناوی چه پخپله سوګند کوونکی هغه انجام کړی وی اوکه سوګند دبل چا په عمل وی نو په علم قسم ورکول کیږی. که چا پخپل فعل سوګند وکړ نودی ته قاطع سوګند ویل کیږی او که دبل چاپه فعل یی سوګند وکړ نو دهغه قسم یواځی دهغه په علم دبل چا په فعل بنادي.

مادۀ- ۱۰۱۸

در قسم قاطع، شرط است که قسم بنا به واقعه وعملی باشد که خود شخص سوگند کننده، آنرا ایجاد نموده باشد واگر سوگند بعمل غیر باشد، قسم به علم داده میشود.

۱۰۱۹- ماده

په هغی مواردوکښی چه سبب یی دمینځه نه ځی قسم په سبب او په هغی مواردو کښی سبب ئی دمینځه ځی په حاصل قسم ورکول کیږی.

مادۀ ۱۰۱۹

در اموریکه سبب از بین نمیرود، قسم به سبب و در اموری که سبب از بین میرود، قسم به حاصل داده میشود.

**۱۰۲۰- ماده**

چــا ته چه قسم توجیه شی بی له دی چه خــپل جــګړه مارتــه ئـی ردکـی ورڅخه نــکول وکی، او چاتـه چه قسم رد شـوی وی او ورڅـــخه نکول وکـی، دعوی بایلی.

**۱۰۲۱- ماده**

کـه پـه یـوه جنـائی حکـم کنبـی دقسـم دروغ ثابت شو نوکوم جګړه مارتـه چه لـه دی قسم څخـه ضـرر رسـیدلی دی کولی شی چـه دتعـویض غوښتنه وکـی او دهغـه داغوښتنه پـه هغـه حکـم چـه دهغـه پـه ضد، ددی دروغجن قسم پـه سبب صادر شوی دی، داعتراض کولو مانع نه ګرځی.

**دوهم قسمت**

**پوره کوونکی قسم**

**۱۰۲۲- ماده**

(۱) محکمه کولی شی چه دخپله ځانه دجګړه والـو خواوو څخه یوی تـه قسم متوجـه کـی چـه وربانـدی خپـل حکـم ددعوی پـه موضـوع کښـی بنـاکی او یا دهغه شی پـه قیمت چه وربانـدی حکـم کوی.

(۲) ددی قسـم پـه توجیـه کولوکښـی شرط ده چه په دعوی کښـی پوره دلیـل

**مادۀ- ۱۰۲۰**

هرگــاه طرفیکــه قســم بــاو توجیــه گردیده، بدون رد آن بطرف دیگر از آن نکول نمایـد یا طرفیکه قسم باو رد شـده، نکـول اختیـار کنـد، دعـوی بـه ضرر او خاتمه می یابد.

**مادۀ- ۱۰۲۱**

هـــرگـــــاه در حکـــــم جــــزائی، کـــذب قـــسم ثابـــت شـــود، شــــخص متضـرر از قـــســم مـــی تـــوانـــد، بـــدون اینکـــه حـــق وی در اعتـــراض برحـــکم صـادره عـــلیه او اخـــــلال گـــــردد، جـــبـــران خســـاره مـطالبـــه نـمایـد.

**قسمت دوم**

**قسم متمم**

**مادۀ- ۱۰۲۲**

(۱) مــــحکمه مـــــی تـــــواند، مــــستقیماً قســــم را بـــیکی از طـرفـــین، جـــهت اســـتناد حـــکم درمـــوضـــوع دعـــوی یـــا قـــیمت آنـچه بـــه آن حـــکم مـــی نـمایـــد، راجـــع نـــماید.

(۲) این نوع قسم وقتی تــوجیه شده مـیتواند کـه در دعـوی دلیـل کامـل

موجودنه وی او هم دعوی دکوم دلیل ثخه خالی نه وی.

**۱۰۲۳- ماده**

محکمه کولی شی چه په راتلونکو حالونو کښی دخپله ځانه قسم متوجه کی:

۱- په هغه حالت کښی چه په ترکه کښی دحق دعوی وشی او ثابته کړی شی، محکمه به مدعی ته قسم متوجه کوی چه داحق یی دځان دپاره یا د بل چا دپاره په هیڅ صورت دمړی ثخه نه دی حاصل کړی، په هغی کښی ابراء یا حواله نه ده واقع شوی، او ذکر شوی حق یی دمړی نه په غیر دبل چا ثخه هم نه دی اخیستی، اوددی حق په مقابل کښی دمړی کوم شی هم راسره گرونه شته دی.

۲- که اخیستونکی وغوښتل چه دیوعیب له امله مبیعه ردکی نو محکمه به ورته قسم متوجه کوی چه په صراحت یا دلالت یی په عیب رضاء نه ده ښکاره کړی.

**۱۰۲۴- ماده**

کوم جگړه وال ته چه پوره کوونکی قسم متوجه شوی،هغه نه شی کولی چه قسم دجگړی بلی خواته ردکی.

وجود نداشته وخالی از دلیل هم نباشد.

**مادهٔ ۱۰۲۳**

محکمه می تواند در احوال آتی مستقیماً قسم را توجیه نماید:

۱- در حالیکه دعوی حق، راجع به ترکه ثابت شود، محکمه مدعی را قسم میدهد که این حق را برای خود یا شخص دیگری به هیچ صورت از متوفا حاصل نکرده، ابراء و حواله در آن صورت نگرفته، حق مذکور را از غیر متوفا بدست نیاورده و از متوفا در مقابل دین، رهن نزد او وجود ندارد.

(۲) درحالیکه مشتری رد مبیعه را مبنی بر عیب تقاضا نماید، محکمه باوقسم میدهد که صراحتاً یا دلالتاً بعیب رضائیت نشان نداده است.

**مادهٔ- ۱۰۲۴**

شخصیکه قسم متممه باو توجیه شده، نمی تواند آنرا بطرف مقابل رد نماید.

## پنځم فصل
## شاهدان

### ۱۰۲۵- ماده

دتجارتی امورو په غیر دقانونی تصرف په ثابتولو کښی دشاهدانو شاهدی هغه وخت کافی ګڼل کیږی چه قیمت یی دزرو افغانیو څخه زیات نه وی او یایی قیمت نه وی ټاکل شوی.

### ۱۰۲۶- ماده

دتصرف قیمت دهغی دصادریدلو په وخت کښی اندازه کیږی، که دتصرف دقیمت دزرو افغانیو څخه زیات وو او دا زیادت په اصل باندی دملحقاتو دزیاتوالی څخه پیدا شوی وو نو په دی صورت کښی دشاهدانو په شهادت ثابتول روا دی.

### ۱۰۲۷- ماده

که دعوی داسی متعددوغوښتنوته شامله وه چه دمتعددو مصدرونو څخه پیدا شوی وه، نو دهر جزء اثبات چه قیمت ئی دزرو افغانیو څخه زیات نه وی، دشاهدانو په شهادت ئی ثابتول جواز لری. که څه هم ددی ټولو غوښتنو قیمت دزرو افغانیو څخه زیات وی او که څه هم دهغی منشا

## فصل پنجم
## شهود

### مادۀ- ۱۰۲۵

در اثبات تصرف قانونی، در غیر امور تجارتی شهادت شهود وقتی کافی شمرده می شود که قیمت آن، متجاوز از هزار افغانی و یا غیر معیین نباشد.

### مادۀ- ۱۰۲۶

قیمت تصرف، در وقت تصرف آن، اندازه می شود ، اگر تصرف از هزار افغانی بیشتر باشد و از زیادت محلقات به اصل نشأت کرده باشد ، در این صورت اثبات به شهادت شهود جواز دارد

### مادۀ- ۱۰۲۷

هرگاه دعوی شامل مطالب متعددی ناشی از مصادر متعدد باشد ، اثبات هر جزء ایکه مقدار آن متجاوز از هزار افغانی نباشد ، به شهادت شهود جواز دارد. گرچه مجموع مطالبات متجاوز از مقدار مذکور ناشی از علایق بین طرفین دعوی یا

پخپله دجګړه والو خواوو علاقی یا داسی تصرفونه وی چه دیوه طبیعت لرونکی وی. داحکم دټولو هغو تادیاتو په باره کښی چه قیمت ئی دزرو افغانیو څخه زیات وی هم تطبیقیږی.

۱۰۲۸- ماده

په لاندنیو موارد دوکښی دشاهدانو په شاهدی ثابتول جواز نه لری که څه هم قیمت ئی دزروافغانیو څخه زیات نه وی

۱- په هغه صورت کښی چه غوښتنه دتحریری سند ددرج شوی اندازی څخه مخالفه او یا زیاته وی.

۲- په هغه صورت کښی چه غو ښتنه دداسی یو حق جزء وی چه دهغی ثابتول دشاهدانو په شاهدی کافی ونه ګڼل شی.

۳- په هغه صورت کښی چه غوښتنه دزرو افغانیو څخه زیاته شوی وی او ورپسی دزرو افغانیو څخه کمی اندازی ته تعدیل شی.

۱۰۲۹- ماده

(۱) په هغه څه کی چه اثبات ئی په لیکلی سند لازم وی نو دشاهدانو په شاهدی ئی ثابتول هم جواز لری. خوپه

ناشی از تصرفاتی باشد که دارای طبیعت واحد است. این حکم در مورد تادیاتی که قیمت آن از هزار افغانی تجاوز کند، نیز تطبیق می شود.

مادهٔ- ۱۰۲۸

اثبات به شهادت شهود در موارد ذیل جواز ندارد، گرچه قیمت آن متجاوز از هزار افغانی نباشد:

۱- در صورتیکه مطالبه، مخالف یا متجاوز از مقدار مندرج سند تحریری باشد.

(۲) در صورتیکه مطالبه جزء چنان حقی باشد که اثبات آن به شهادت ناکافی ندانسته شده باشد، گرچه جزء باقیمانده همان حق باشد.

۳- در صورتیکه مطالبه بمقدار بیش از هزار افغانی صورت گرفته ومتعاقباً به مقدار کمتر از هزار افغانی تعدیل شود.

مادهٔ- ۱۰۲۹

(۱) اثبات به شهادت شهود در آنچه اثبات آن به سند تحریری لازم باشد جواز دارد، بشرطیکه

دی شرط چه دثبوت لیکلی مبدا پیدا شی.

(۲) هره لیکنه چه ددعوی کړی شوی شی تصرف قریب الاحتمال ګرځوی او دجګړه والی خواخخه صادر شوی وی، دلیکلی سند دثابتولو مبدا ګڼل کیږی.

۱۰۳۰- ماده
دکوم شی چه په لیکلی سند ثابتول واجب دی په لاندنیو مواردو کښی دشاهدانو په شاهدی دهغی ثابتول جواز لری:

۱- په هغه صورت کښی چه مادی یا معنوی سببونه دلیکلی سند دحاصلولو مانع شی.

۲- په هغه صورت کښی چه لیکلی سند دپور ورکوونکی دارادی څخه دباندی سببونو باندی ورک شی.

شپږم فصل
قرینی

۱۰۳۱- ماده
۱- کـه دچا په ګټه قانونی قرینه پیدا شی نو هغه دثابتو لو دنورو وسیلو څخه بی نیازه کوی مګر هغه وخت چه قانونی صراحت دهغی په خلاف

مبداء ثبوت تحریری موجود شود.

(۲) صدور سند تحریری که وجود تصرف مدعی به را قریب الاحتمال گرداند، مبدأ ثبوت سند تحریری شناخته میشود.

مادۀ- ۱۰۳۰
اثبات به شهادت شهود در آنچه اثبات آن بر سند تحریری لازم باشد، در موارد ذیل جواز دارد:

۱- در صورتیکه اسباب مادی یا معنوی مانع حصول سند تحریری شود.

(۲) در صورتیکه سند تحریری به اسباب خارج از اراده دائن مفقود گردد.

فصل ششم
قرائن

مادۀ- ۱۰۳۱
۱- قرینۀ قانونی که به مصلحت شخص موجود شود وی را از سایر طرق اثبات بی نیاز میسازد، مگر تا زمانیکه نص قانون به خلاف آن

پیدا شي.

۲- دقانوني قریني نقضول دهغي دعکس په دلیل جواز لري.

**۱۰۳۲- ماده**

کوم حکمونه چه دقطعي حکم دقوت لرونکي وي، دخپلو ټولو مندرجاتو سره حجت ګڼل کیږي او دهغي په نقضولو بل دلیل نه قبلیږي خو په دي شرط چه جګړه دعینو اشخاصو ترمنځ صورت ونیسي او حق دعین محل او سبب پوري تعلق ونیسي.

**۱۰۳۳- ماده**

جزائي حکم دمدني قاضي پوري تعلق نه لري، مګر په هغو واقعو کښي چه دضرورت په ایجاب ئي په کښي حکم صادر کړي وي.

**۱۰۳۴- ماده**

قاضي کولی شي هغه قریني چه په قانون کښي نه شته او ددعوي پوري دمربوطو حالونو څخه استنباط شي په نظر کښي ونیسي. مګر په هغي استنادیوائي په هغه صورت کښي کیدای شي چه قانون په کښي ثابتول دشاهدانو په شاهدی مجازګڼلي وي.

موجود نشود.

۲- نقض قرینهٔ قانونی به دلیل عکس آن جواز دارد.

**مادهٔ- ۱۰۳۲**

احکامیکه حایز قوت حکم قطعی باشد، باتمام مندرجات آن حجت شمرده میشود و دلیل دیگری به نقض آن پذیرفته نمیشود. مشروط به اینکه منازعه بین عین اشخاص صورت گرفته و به عین محل و سبب حق، تعلق گیرد.

**مادهٔ- ۱۰۳۳**

حکم جزایی به قاضی مدنی ارتباط ندارد، مگر در وقایعیکه بنا بر ایجاب ضرورت حکم صادر نموده باشد.

**مادهٔ- ۱۰۳۴**

قاضی میتواند قرائینی را که توسط قانون پیش بینی نشده و از حالات مربوط به دعوی استنباط شود، در نظر گیرد. مگر استناد به آن تنها در صورتی شده میتواند که قانون در آن اثبات را به شهادت مجاز دانسته باشد.